ناول

# بختیالۍ

عبدالقادر مجرم



خپرونکی : هیواد ادبي یون کلاسیف
الله

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمان الرحیم


## دکتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| دکتاب نوم | بختیالی |
| لیکوال | عبدالقادر مجرم |
| کمپوزر | عبدالقادر مجرم |
| دچاپ کال | ۲۰۱۴ |
| دچاپ شمېر | ۱۰۰۰ |
| بیه | ۱۵۰ روپۍ |



Email/ qmujrim@yahoo.com

MOB 0302 3809538

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لیکوال چاپ شوي کتابونه

- مات وزری
- ژوندون او امیدونه
- داسي یېِ ولي وکړل
- لویه لار ده څوک به راشي
- مینه مروره شوه
- دوی هدیره نه لري
- (بختیالی) همدا اثر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تړون

دهغو شاعرانو او ليکوالانو په نوم
چي کتابونه يې ناچاپه پراته وي.دچاپ
وس يې نه لري

عبدالقادرمجرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



1

پــهٔ بختيــالی پــوري ژونــد خپلــي دنگــې ونــې پنــډ وجود ،ښاهسـته تـګ اوور کړی وو ، رمضـان خـو هـم د دې پـهٔ دنګه ونه ،پنډ وجود ، ښاهسته تګ مئین شو چې ویې غوښته .

رمضـان خپلـه هستي ،نېسـتي ،ملکېـت تـر اولـې ښـځې د ناروغی پر وخت جارکړو د پلار ،نیکه ورپاتې مځکه یې تـوله د بختیالی پهٔ ولور کې د دې پلار ته ورکړه ،کله چې یې بختیالی را وادهٔ کړه

يو د کلي هغه سرای چې درې خونې د شمال له لوري پهٔ کې لوېدلې وې پهٔ هغو کې هم ده دوو خونو سرونه پټ وو چې پهٔ يوه کې لا تـر اوسه دروازه نـهٔ وه د دریمې خونې دېوالونه پوره وو ، خو پر سر یې نور هیڅ نـهٔ وو یو شاتیر پر پروت وو چې دېرو لمرنو او بارانونو تک سپین اړولی وو ، چارپېره دېوال يې يونيم گز جگ چې سر يې د بارانونو اوبو ورسره وړی وو ، د سرای دروازه یې د سهېل پهٔ لور وتلې وه.

ځلور ګزه مخته د ملکداد د خونو شا را الګېدلې وه د ملکداد د هرې خونې د شا لور ته یوه یوه غټه موری درلوده چې د انارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نرۍ، نرۍ لښتې یې پهٔ کې نیولې وې چې د رمضان د سرای د
ختیځ هم د لوېدیځ لهٔ لورې د دهٔ څهٔ مځکه پر ته وه.
دا چې رمضان بې له دې سرای او پهٔ دې سرای پورې مځکې
بل هیڅ هم نهٔ در لود ځکه یې د بل مزدورۍ او بزګرۍ ته ملا
تړلې وه
بختیالۍ ډېرې ورځې ورته ویل "زهٔ بهٔ هم پهٔ کښت
کرونده کې کار در سره کوم" خو د دهٔ «هو» پر خوله نهٔ راتلهٔ، دا
چې کښت له کوره ډېر لرې وو ځکه دی وېرېدهٔ چې داسې نهٔ
وي بختیالۍ ته څوک پهٔ لاره کې ودرېږي یا لاس ورواچوي
پهٔ شرمونو بهٔ مې وشرموي.
رمضان بختیالۍ ته د مرستې اجازه نهٔ ورکوله وجه هم دا
وه.
بختیالۍ هم پوهېده چې مېړهٔ مې د داسې سوچ سړی نهٔ دی
چې "ښځې دې له خپلو خاوندانو سره پهٔ کروندو کې مرسته نهٔ
کوي" دا پوهېده چې "خلک تول ګوته پهٔ غاښ ما ته حېران
حېران ګوري"
یوه ورځ خو لا داسې هم وشو چې څو ځوانان پهٔ لاره کې یو
ځای سره ناست وو، کله چې بختیالۍ پهٔ لاره تېرېده یوهٔ ور
پسې ږغ کړو "له نظره مهٔ شې" دې یې هیڅ جواب ور نهٔ
کړو. پهٔ تلو تلو کې یې پر دا خندل دوی خواران څهٔ خبر دي
چې دې د ځان هغه عیب خوندي ساتلی دی کوم چې د دې د
ښکاره ښائیست" توهین کوي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي بهٔ هم نهٔ وو چې د دې ټولو بهٔ نيت خراب وو ، د هر به شاهد پهٔ دې نيت پهٔ لاره کې ناست وو چې دا ماځيګر اوبو ته ځي د تګ ننداره بهٔ يې وکړو د دوی پهٔ نيت بهٔ خدای خبر وو ؟.

دې ځکه پروا نهٔ پهٔ کوله چې و دې ته خپل ښائيسته تګ له وختونو وختونو معلوم وو او هم يې دا يقين وو چې دا خلګ زما د قدمونو ننداری ته ناست دي ننداره يې کوي.

پهٔ دې ډول څو کلونه تېر شول ، اوس نو بختيالۍ د دوو ماشومانو مور وه ، يو سړی چې دې پهٔ دا څو کاله نهٔ وو ليدلی لکه د دې لېورزی.

چې د دې د مېړه د ميراث خوارهٔ زوی وو" اوس اوس له جېله راغلی وو.

له دې سړي د دې ډېر بد راتلو لکه د ملکداد چرسک تل بهٔ يې پهٔ لاره کې ناست وو ، يوه لوېشت قد ،نری وچکی مخ ، ژړ لوی غاښونه ، تارتار ږيره به يې ښه پهٔ تېلو ننولې وه (د هره غوړه کړې ) چې چوغی سترګې بهٔ يې تر ورځو پورې پهٔ رنجو تورې وې.

چې دا بهٔ ورنزدې شوه دهٔ بهٔ پر غوږ لاس کښېښودو پهٔ لوړ ږغ به يې کاکړۍ غاړې وويلې

لــــکوې د پېښو نوکـــان
خواره سي غرق د کو ځوانـان
پـــهٔ نـوکـان وهـي لـمـن
لاره ژړ غـاړګي د خــاؤلـــن
ښائسته دی ولنګ پـهٔ بـوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ کپنی راځي اوبــولــه

دي ته به هغه متل وریاد شو "زړه په داسي ځای کې دی چې لمر يې نه دی لیدلی" کله کله به یې له غاړو سره سره نور هم څه نه څه وویل

"ستا د لاسه خو زما خوب تښتېدلی دی تل مې ستا اند ښښنه وي..." څو څو ورځې یې پوه کړی سړیه ولې داسي کوې خپل کار کوه د عزتمني کورنۍ یې مه د خپلي کورنۍ عزت اخله، مه زما او زما د مېړه نیت سره بده وه، که د کلي خلګو و لېدلې بیا به ته په خلګو کې په کومو سترګو ګرځې او زه په کومو او یا زما مېړه ولیدې؟

سړي سر نه خلاصاوو، ډېره یې سترې کړه، یوه ورځ یې مېړه له کوره ښار ته لاړ خوابښي یې د باندي وتو نه وه، غتېو کې ناسکه "لور زرینه، زوی خاخان" ته یې وویل که (انا) چېري پوښتنه کوله ورته "وویاست اوبو ته لاړه راځي" وړوکی زوی یې په غېږ کې واخیست په ځغاسته له یوه او بل دېوال سره د ملکداد تر کوره ورغله دا یې د مېړه د میراث خواره کور وو چې دې کله هم په سترګو نه وو لیدلی د ملکداد له ښځې چې یې پوښتنه کوله، د هغې پر ځنګانه یې پروته ډوډۍ، تر مخ یې د شلومبو ډکه کونجی لیده.

پوښتنه یې ځیني وکړه "برېښمین چېري دی" (ملکداد) د ملکداد ښځه چې د شلومبو کونجی ته یې لاس وراچا وو "په هغه خونه کې دی"

(c) ketabton.com: The Digital Library



بختیالۍ چې پړونی یې پر مخ سما وؤ پۀ هغه خونۀ ورد ننه شوه
ملکداد چې یوه پښه یې پر هغه بله اړولې وۀ. "ښت ته پروت سپیني غټې تسپې یې پۀ یوه ګوته اړولې پټکې یې پر بل بالښت ورته پروت وو ده د پټکې د پر سر کېدلو هڅه کوله چې را پورته شو پټکی یې پر سر کا وؤ "بختیالۍ ته او زموږ کور؟" له روغبړه پس
بختیالۍ له شرمۀ کښته کتل ناسته وه ډېر د زړۀ پۀ زور یې د زوی کیسه ورته وکړه.
ملکداد د مسخرو پۀ ډول له ورې خندا سره ورته "وویل زړۀ بۀ یې درسرۀ غواړي"
بختیالۍ چې د دۀ لخوا د پړوني څاک نیولی وو د پړوني هغه څاک یې پۀ غاښو کې ټینګ ونیوو خپل ماشوم یې پۀ غېږ کې واخیستو ولاړه شوه، له ډېره تهره یې سر د دروازې له چوکاټه وواهه.
ده پۀ کټ کټ وخندل "زۀ به یې پوه کړم".
پۀ لاري یې له ځانه سرۀ فیصله وکړه چې پلار او زوی سره خبر دي پۀ دې بلۀ ورځ چې اوبو له لاړه، د کلي ښځو وریوري خندل.توکې یې ورسرۀ کولې "خواره شې ته یې څه پروا کوې لېورزی دي دومره پۀ حق راست دی تول ماځیګر پۀ لار: کې درته تېر کړي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



بختیالی چې په لاس رسی کښوله له (ځا) یې اوبه راکښلې، کټ کټ وېې خندل. "دی هم غواړي چې د رمضان چل ور سره وکړم".

یوه بله ښځه چې کلیوالهاو همځولې یې وه، د پوزي چارګل یې سما وؤ "له هغهٔ سرهٔ دي څنګه چل وکړی؟".

بختیالی چې له (ځا) راکښلې اوبه پهٔ ګوډي کې تویولې پهٔ کېسه یې شروع وکړه.

"رمضان چې زهٔ نه وم غوښتې ، یوه ورځ پهٔ غرهٔ کې پهٔ مخهٔ راغلی ما او مور بوتې کول ، دی به نو هم خود پهٔ یو کار پسې وو ، تر ما چې تېر شو ، پهٔ تلو تلو کې یې ترشا ډېر ډېر راکتل ، پر یو هسک ځای کښېښستو ، ما ته یې له هغه ځایه کتل ، زهٔ او مور روانې شوو ، دی تر هغه وخته پر هغهٔ ځای ناست وو ، تر څو موږ پهٔ کېږدی دننه شوو.

ماښام دی هم راغلی زموږ کېږدی ته ودرېدو ، ناری یې کړې" مسافر یم د اودس اوبه که مو راکړې؟".

اوبه مو ور کړې ، پلار مې پر کور نه وو ، شپهٔ یې وکړه ، سهار یې مورکی ته دا کېسه کړې وه "ښځه مې وفات شوه که دې دا لورکی را کړې وای؟" زهٔ نهٔ وم خبره چې دی او بابا له مایهٔ پټهٔ کې تر ډېرهٔ سره نژدې شوي دي . له هغې ورځې پس چې بهٔ زهٔ له کېږدۍ را ووتم پهٔ هغهٔ لوربهٔ مې وکتل سری بهٔ ډېر هغهٔ لور ځای ناست وو.

یوه ورځ مې پېرې پر اوږه کړو د بوټو پهٔ بهانه له کوره را ووتم، سرې ته ورغلم لاس مې له خولې ورته واخېستو تهٔ شرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهٔ لرې سهار راسې پر دې ځای کښېنې تر ماښامهٔ د چا پهٔ عزت کې نهٔ یې د خلګو عزتونهٔ اخلې .....". سرې خندل سوکه سوکه زما پر خوا را روان وو سرې سم دستي را وغورځېدو ماته یې لاس را واچاوو ،ما هم غېږ ورباندې وګرځوله،دی زما له زورهٔ نا خبره وو،خوارکې مې ومځکه ته کړی،پهٔ هغهٔ له کوره راوړي پړي مې ټینګ وتاړهٔ، زهٔ کور ته لاړم مور ته مې کېسه وکړه مور زما د خبرې له اورېدو سرهٔ سم څرخې وغورځاوۀ.

"پر خوله لاس ونیسه چې و بل چا ته وه نهٔ ووایې ، زمونږ له دې سرې سره خبره روانه ده تا ورکوو ........"زهٔ حقه حېرانه کښېنستم دلته نو پر ګودر ټولو ناستو ښځو پهٔ کټ کټ خندل

یوبلې ته ویل خورې تر اوسه مو اورېدلې دې چې یوې "ښځې سړی غو ځار کړی دی دا ترل خو یې هوس وچ کړې".

بختیالۍ چې د (ځا ) رسۍ را خلاصه کړه دوی یې کښېنولې چې تاسو یو ګړی پس راپسې راسی زهٔ دی ګورم که وو بختیالۍ چې راغله دی پهٔ لاره کې ناست وو دې ګوډۍ پر لوړه کښېنوی د دهٔ پهٔ خوا ور روانهٔ شوه"د دهٔ زړهٔ د خوشالۍ تو پونهٔ شروع کړو چې کار جوړ شو"دا چې ور نژدې شوه تهٔ شرم نهٔ لرې د وودې و رسۍ ته یې لاس کړو.

څوک چې شرم نهٔ لري له هغو سره بختیالۍ داسې کوي چې ورسېده دی ولاړ شو دې غېږ پر وګرځوله ومځکه ته یې کړی هغه را اخیستې رسۍ یې پر واړوله ټینګ یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتاړۀ راکش یې کړی د لارې منځ ته دې خپل ګوډې پۀ سر کړې روانـۀ شـوه د دۀ زوروئـۀ ، زارۍ وې ،د خـدای د پـاره خلاص مې کړه څوک به مې ووینې بیا مې توبه ده داسې به نـۀ کوم یو ګړی وروستـۀ شاته پاتـه ښځو د دې پر دروغو خندل را روانې وې یوې څه ویل بلې څه ؟ چې پـۀ لاره کې یې چرسک تړلی ولیدو ټولې حېرانې شوې.

چرسک پۀ خپل زور او چل د خلاصېدو هڅه کوله هم یې وښځو ته زارۍ شروع کړې د خدای د پارۀ خلاص مې کړی. ښځو له ډېرو ګپو پس خلاص کړی بیا چې بۀ هر وخت ښځو ولیدی ور پسې ناره بۀ یې کړه "بختیـالۍ چرسک هغـه دی "وایې خبرۀ چې تر نهه غاښه ووځې تر نهـه غرۀ اوړې سو که سو که د چرسک پـۀ تړلو د کلي نر او ښځه ټول خبر شوو او هم د چرسک مور او پلار ........

(c) ketabton.com: The Digital Library



2

بختیالۍ سهار وختي ولي جامې پټکی ،سدرۍ ور کړه رمضان ماجت (جومات) ته لاړ.
بختیالۍ ژر ژرخپل لمونځ وکړو ماشومان هم را ویښ شو پهٔ بستره کې یو ، بل ته خپل پهٔ نکریځو سره لاسونهٔ ښکاره کول.
دې تودې (ګرمې) اوبهٔ ، یو لوی تال راواخیستو پر خپله لور یې ږغ کړو.
"زرینې ته را پورته شه زهٔ دي د (انا) سر ور پرېولم تهٔ بهٔ اوبهٔ پر اچوې"زرینه له څه ځنډه وروسته راپور ته شوه لاس یې له نکریځو پرېولو.
خپلو سرو لاسونو ته یې کتل چې اوبهٔ یې پهٔ لاس ورکړې دې خپله خوانبې پهٔ غېږ کې راپورته کړه وړوکې لور یې اوبهٔ پر تویولې سر یې ورپرېولی ښې پاکې جامې یې پهٔ واغوستې شا وخوا یې بالښتونه ورکړو کښې یې نوله.
د خوانبې تر خولهٔ یې دا لفظونه دا یې را وتو چې هسې دا پهٔ پوهېده"رمضان چېرې دی" مورې هغه ماجت ته تللی دی نن د لوی اختر ورځ ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د بختیالۍ او خوانبې خبرې ختمېدې د رمضان تږخی شو دننه راغلی د مور د منځلې سر، پاکو جامو د هر خوند ورکړو دا هڅه یې وکړه چې د خوانبې پهٔ حق راسته نږور پهٔ غېږ کې تېنګه ونیسي پر تندي یې مچ کړي خو داسې یې ونهٔ کړو خپل واړه یې پهٔ سترګو شو.
د ځپلۍ له کبنو سره سم یې پر مور غېږ وګرځوله مورې" د اختر دې مبارک شه".
بختیالۍ ته یې مخ ورواړوو ښځې "د اختر دې مبارک شه".
له زړینې سره یې پهٔ لاس د اختر مبارکې وکړه
خپل واړهٔ واړهٔ زامن یې پهٔ غېږ کې پر یو، بل ځنګانه کښېنول بختیالۍ پیاله ورډکه کړه.
رمضان له ورې خندا سره سره پهٔ خواږه نظر ورکتل "ښځې چای خو مې پهٔ ماجت کې وخورې"
بختیالۍ چې پهٔ نکریځو سره لاس کې هګۍ ورمخته کړه.
"تهٔ دا پیاله درپورته کړه یوه هګۍ بهٔ هم ورسره وخورې".
رمضان چې یې هګۍ له لاسه نیوه "ښځې هګۍ دا هلکانو (ماشومانو) ته ورکړه".ماشومانو پهٔ یو دغ وویل بابا مات یې راکړه،بابا ماته یې راکړه
رمضان چې هګۍ سپینه کړه نیمه یې یوه نیمه یې بل ت ورکړه که یې څهٔ هم مور هسې خوله خوځوله دوی ورسر پوهېدو چې دا وای.
"رمضانه زویه اختری خو بهٔ دې کړی وي که څهٔ هم د پهٔ غوږ ښه نهٔ اورېدو رمضان یې غوږ ته خولهٔ ورنږد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه ، نهٔ موري اختری له څه دی چې د اختري روپۍ وای ته
بهٔ دلته پهٔ بستره کې ناروغهٔ راته پروته وې "رمضان بیا د
مور پهٔ خبره له ځو واره پس پوه شو "زویه له یو چابهٔ دي
پهٔ پور کاوؤ"
رمضان موري "اوس خو ښځي له پورو د سر تر ښکره شوم
څوک پور نهٔ راکوي "دلته یې له تو خي کولو سره سا سمه
شوه پهٔ اوله خبره یې پوه شو.
"زویه چې بختیالۍ راته وویل موري نن د لوي اختر ورځ
ده ، زړهٔ مې ډېر ښه شوو چې نن بهٔ پر وور پخه (ینه)
وخورې د خولې خوند بهٔ دي پهٔ ښه شي هغه ته وای اختری
مې نهٔ دی کړی ، خېر ګاونډیان بهٔ برخه راوړي پهٔ هغه کي
بهٔ د ینې خاشه وي بختیالۍ لوري چې را یې وړه پهٔ مالګه
یې ښه تروه کړه د خولې خوند بهٔ مې لږ پهٔ سم شي"
رمضان نور څه کولای شو بس (اوف )بهٔ یې کړو ، د مور بهٔ
یې وارنه وو لوري یو چا برخه نهٔ راوړه؟.
بختیالۍ" نهٔ موري چې رایې وړې زهٔ یې دستي در پخوم"
ته یې غمه شه د ګاونډیانو برخې وځنډې دي (ناوخته) شوې
، دوی د مور پوښتنو دومره سترې کړو چې اخیر یې پهٔ
لویه ډیره پهٔ ژړا شروع وکړه.
بختیالۍ ورنږدې شوه "سریه پهٔ ژړا یې سر نهٔ سره ورځي ،
داسي به وکړو ، چرګ خو لرو هغه به ور حلال کړو (ینه) بهٔ
یې پر وور وریخهٔ کړو دا یې پهٔ خوند څهٔ پوهېږي؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رمضان د بختیالۍ پهٔ خبرو لږ ډاډهٔ شو سترګې یې له اوښکو پاکې کړې زرینه ته یې اشاره وکړه دواړه سوکه وو تو پلار او لور دواړه پهٔ چرګ پسې څغاستو. بختیالۍ خوابښې ته ناسته وه، د همسایه ماشوم برخه راوړه. بختیالۍ ته یې وویل "تروري (ینه) هم پکښې ده مور مې ویل دا بهٔ پر وور پخه کړي، دوی اختری نه دی کړی، زړهٔ بهٔ یې ورته کېږي" دې هغه برخه راوړه زر زر یې ډوربل کړی پر (ینه) یې مالګه واچوله پر وور یې کښېښوله هغې ته ناسته وه. لور و مېږهٔ یې له خوا او خاطره وتلې (هېرشوي) وو، چې د لور یې چغې شوې دا ورولاړه شوه د سرای تر دروازې ورتله لور یې دروازې ته را ورسېده پړونی یې پهٔ لاس کې وو پهٔ ژړا کې بېرته وګرځېده هله موري بابا (ځا) ته ولوېدو دې هم ورسره چغې کړې دواړه (ځا) ته پهٔ څغاسته ورغلې هغه د وختونو زاړه (ځا) ته. هغه (ځا) چې د یاغي شنو کوترو د اوسېدو ځای وو. تر هغه د (ځا) پر غاړه لېونی ګرځېدې.

تر څو چې کلیوال یو یو راتلو د چا لاس پهٔ وینو سره، د چا پهٔ وینو سره چاړه پهٔ لاس کې، چا د یو پر توک بر سېره بل وکړه چې څه ډول (ځا) ته ولوېدو له (ځا) یې څه غوښت؟ یوه زرینه خبره وه هغه پهٔ چغو سر وه لکه لېونی پر (ځا) چاپېره ګرځېده چې کلیوالو د شنو یاغي کوترو همسایه رمضان مړ را وکښو ما جت ته یې یو وړی یو غټو کی زوی ورسره لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا او لور کور ته راغلې خونه له دوده (لوګي) داسې ډکه وه چې ښځې سترګو دیدنه کا ؤو ،وړکي زوی یې ژړل دې هغه را پورته کړی په غېږ کې یې نیولی وو ،اوښکې یې په ماشوم کې تویېدې لور یې د خونې د وره پرده پورته کړه چې دود (لوګی) کم شو دې خوابنې ته وکتل تر خولۀ یې څګونه راغلي وو، دې ماشوم ببر ته کښېښوی خوابنې یې را پورته کړه خولۀ یې ور پاکه کړه او بۀ یې په خولۀ کې سوکه سوکه وراچولې چې څه یې سا سمه شوه هغه (ینه) یې وروله په خولۀ کې یې ور کوله چې کله بۀ یې سا سمه شوه د رمضان پوښتنه بۀ یې کوله دوی بۀ ورته وویل مورې وتلی دی راځي . تر هغه ورځې چې دا یې هم په رمضان پسې خاموشه کلي (هدیرې) ته یوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



3

بختيالى سهار وختي وور بل کړى وو، د نغري پر غاړه يوازي ناسته وه، خپلو ويدو ماشومانو ته يې کتل. سترگې يې له اوښکو ډکې وې دا فکر يې کاوو"چې نن بۀ يې څوک را پورته کوي، اول خو بۀ يې پلار له ماجته راتلۀ، يو يو بۀ يې پۀ ناز را پورته کاوو".

زرينه له دباندي راغله"موري ! دينک کاکا راغلى".

دينک پۀ زرينه پسې لنډ پۀ خونه را دننه شو، د نغري پر هغه بله غاړه کښېنستو.

دينک "بختيالى دا صلاح مې درسره کوله که ستا خوښه وي، زۀ بۀ رپورټ وکړم".

بختيالى چې له چائينکې سر پورته کړ، بيرته يې پر کښېښودو ،د خپل لاس بنگړي يې کښو"نۀ کاکا، زموږ رپورټ يوه مانا نۀلري، نۀ سړى وهل شوى دى نۀ ويشتل شوى، پۀ (ځا) کې لوېدلى دى، دا پر دې زورورو څوک اړوي چې تاسو وژلى دى".

دينک له چاى پس اچولى نسوار تو کړۀ، نه زويه زۀ ودې ته حيران يم دومره لرې يې له کوره (ځا) ته څنگه بوتلى؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بختیالۍ چې د چای پیالې ډکې کړې، کنبلې بنګړې یې سره یو ځای کول "کاکا زرینه وایي چې موږ له کوره ووتو د ملکداد د چرسک نارې او اشارې یې وې چې هله یو څوک په (ځا) کې ولویدو.

زۀ او بابک چې ورغلو، بابک (ځا) ته سر ور ښکاره کړی دۀ له شا پسي پورې واهۀ ،کاکا زرینه مې پوه کړې ده چې پر خولۀ لاس ونیسه او ګوره ، ګوره چې دا خبره وچاته ونۀ کړې، پښتانه وايي «تېز په تاڅیله نه نیول کیږي» کار بۀ له چله اخلو".

دینګ چې پۀ لاس کې خلی پۀ وور کې غورزاوۀ زۀ خو وایم " ریورټ بۀ ښۀ وي".

بختیالۍ پۀ قهر او ګونجې تندي ور وکتل "کاکا خو درته ومې ویل، له دې څه بۀ کار پۀ چل اخلو، نور وس خو زموږ نه پۀ رسیږي".

دینګ ولاړ شو، خپل تور خیرن،خلاص شوی پټکی یې پر سر پیچلی"سمه ده، لورې چې څنګه ستا خوښه ده،خو دا یوه خبره یاد لره، پر ما چې دې هر بار ږدی، زۀ هم پۀ شپۀ تیار یم، هم پۀ ورځ".

چې دی ولاړېدو د بختیالۍ مور او پلار هم راغلو، مور یې دلې پۀ چغو شوه، پلار یې ماجت لاړ،پۀ ماجت کې پر فاتحه چې دعا وشوه، له دعا وروسته یې ملکداد ته مخ ور واړاوو، پوښتنه یې څیني وکړه" دا واقعه څۀ وخت پېښه شوه ،او دۀ له (ځا) د اختر پۀ ورځ څۀ غوښت؟".

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملکداد له بلې دعا وروسته چې خلګ رخصت شو "زما دا شک دی، دومره وختي چې (څا) ته ورغلی دی، د کوترو د نیولو هڅه یې کوله ، د دهٔ غریب خو مور ناروغه وه، یو چا بهٔ ورته ویلي وي چې د کوترو ښوروا یې ښهٔ ده.

ورځ یې پر فاتحه تېره شوه ، ډوډۍ یې د ادم خان پهٔ کور کې وخوړه، د ماخوستن له لمانځهٔ چې راغلی، له بختیالی یې پوښتنه وکړه "لورې! دا اوس څنګه پښبه شوې ده؟،دهٔ د اختر پهٔ ورځ له (څا) څهٔ غوښت؟".

بختیالی چې یې بالښت و څنګ ته کېښښودی، کښښستهٔ توله کیسه یې ورته وکړه.

دی هغه ډول ناست وو "لورې! زهٔ څهٔ چل وکړم؟. له ما خو یې ورخونه یوړل".

بختیالی چې سترګې یې د مور پر خوا واړولې "بابا تهٔ او مورکۍ صبا خپل کورته لاړ شی.پهٔ کیسه کار مهٔ لره.زهٔ پهٔ خپل کار پوهېږم، وماته ښهٔ درک راکوي، تاسو کار مه پهٔ لرئ".

"لورې! پهٔ دې زهٔ ښهٔ پوهېږم. چې تهٔ تر ما ښه پوهېږې، ځکه خو تل له خانه سره دا وایم .کاش! دا مي لور نه زوی وای".

بختیالی: "یو خو ستا لاس نهٔ پهٔ ښنلي، بل زهٔ پر دې ویرېږم ماشومان را وژني".

دریم مانبام یې : مېرهٔ میراث خور، ملکداد کورته ورغلی "بختیالی دا ماشومان دې روان کړه، درځه کورته. څهٔ کوې چې له دې ورو ماشومانو سره، پهٔ دې تورو دېوالونو کې ناسته یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته بۀ دې لږ له ښځو سره خولۀ پرې وي، لږ بۀ دې پام پۀ بله شي".

دې لرګي ته لاس کړو "وزه، تۀ چې د ماشومانو له غمه مړ کېدای، پلار بۀ دې نۀ وروژلی".

ملکداد چې پۀ غاښو کې نیولي د بربت وېښتان پرېښول "نۀ بختیالی، تۀ هسې بدګمانه شوې یې، ګمان مۀ کوه، ګمان د ایمان زیان دی".

دا ورولاړه شوه چې د لرګي وار یې پر کاوۀ، دی ووتو.

بختیالی چې ځو ورځې پس ورغله سنګین ته "پۀ ما خو تۀ خبر یې، مېړۀ مې مړ شو، بل سړی زۀ نۀ لرم، چې ستا فصل در پالي ، دا فصل له یو مسلمان وراوله چې بیه یې کړې چې ځومره مې حق جوړېدو هغه را کړه".

سنګین که څه هم غځېدلې پښې را ټولې کړې. بیرته یې هم یوه پر هغه بله واړوله، را پورته نۀ شو.

بختیالی هم دا محسوسه کړه چې دی وایي زۀ هم یو سړی یم "سمه ده خورې. هغه ورځ ملکداد هم راغلی، دا ستا وراسه یې کوله".

بختیالی که څه هم د سنګین له خوا د پرونې ځاک نیولی وو. بیا یې هم سنګین یوه سترګه لیده " نۀ نۀ وروره. ګوره چې ملکداد ته یې ور نۀ کړې".

سنګین چې د دې یوه ښکاره سترګه ته کتل " سمه ده خورې ، زۀ بۀ یو ځوک پیدا کړم چې بیه مې کړی. ستا روپۍ بۀ ورور کور ته در وړي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



سنګین څو ورځې پس کورته ورغلي، لس زره روپۍ يې ور کړې" خورې ستاسو فصل خو دريم په څليرويشت زره بيه کړې، په څليرويشت زره کې ستا دريمه، اتۀ زره کېده، ما لس زره در کړې".
بختيالی هغه روپۍ ور نيولې "وروره کور دې ودان".
څلور مياشتې يې په دې تورو دېوالونو کې په دې تيرې کړې چې دا راز ځان ته معلوم کړم ، د پنځمې مياشتې په اوله شپۀ څلور، پنځۀ سپين ږيري، يو د کلي مولوي صاحب راغلوۀ، له روغبړه پس مولوي صاحب له جېبۀ تسبې را وکښې، تسبې يې بيرته و جېب ته کړې چې په خبرو يې داسې شروع وکړه
"بختيالی شکر دی موږ خدای مسلمانان پيداکړي يو، مسلمانان چې دي تر دې ټولو انسانانو افضله دي،هغه په دې چې په دين د اسلام دي ......... اوس بۀ د مطلب خبرې وکړو، بختيالی زموږ په مذهب کې داسې دي چې کومه ښځه د مړوښې وي، هغه ښځه بۀ ضرور مېړۀ کوي، موږ د دې د پاره راغلي يوچې خپلې غاړې خلاصې کړو".
بختيالی چې پر خپل ويدۀ زوی کالی سماوو "مولوي صبب! تاسو ته دي خدای خېر در کړي، دا ښۀ شو چې تاسو راغلاست، زۀ مو پوه کړم ،اوس بۀ مېړۀ ضرور کوم، يو خو بۀ ځان له عذابۀ خلاص کړم بل بۀ مې ماشومان را ساتي،خو يو څو ورځې بۀ وماته مهلت راکوی چې زۀ سوچ وکړم، څوک زما د پاره ښۀ دی، هر څوک چې زما خوښ شو، زۀ بۀ درته ووايم، له هغه سره بۀ نکاح را وتړئ".

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولوي صاحب چې دوباره راکښلې تسپې جېب ته اچولې "بختیالی ! ته پرېدي خلګ خه کوې، دا خپل میراث خوار دي بې واده ځوان زوی ناست دی، هغه وکړه، روپۍ ورسره ډېرې دي، د هیڅ کمی به ور سره نه وي".

بختیالی چې سرکښته ځړولی وو. د نغري پرغاړه بې په واړه خلي لیکې کښلې "نه مولوي صاحب دا سړی خو بېخي نه کوم، دا زما د مېړهٔ قاتل دی".

مولوي چې لاس سره مروړل "بختیالی نخرې مهٔ کوه، دا سړی دي خدای قریب کړی دی".

بختیالی چې په لاس کې وړه لښته، په جار کې وغورځوله "مولوي صاحب ! نه بې کوم چې پر سر بې را وتړې لا هم".

مولوي صاحب چې مخ مجو(مجید ) ته ور واړوو "بختیالی ستاخوښه ده، ملکداد خو هم ښهٔ در معلوم دی. که بې په رضا زوی نه کوې، سبا دي په زور په کوي".

بختیالی چې مخ بې ماشومانو ته واړاوو "مولوي صاحب! ښتانهٔ متل کوي، وايي «پر لمانځه مي ودروې ته. وايي به بې څوک".

مولوي چې پر ږیره لاس تېراوو، سترګې بې په بختیالی کې وې "بختیالی مور سوال درته کوو، مهٔ ځان بې شرمی ته جوړه وه، مهٔ دی، سبا ک. بدنامه شوې. بدنامي خو دي د دهٔ ده".

له دې خبرې سره سم ولاړ هم شو، د سرای تر دروازه ووتو. بختیالی هم پته او سوکه ، سوکه په لځو پښو ورغله، د سرای

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دروازه کې. و یونیم گز دېوال ته پته ودرېده،دوی سره رېغېدو. خبره مجو (مجید) اکا کوله".

مولوي صاحب دا خبره لکه چې رېښتیا ده چې دا سړی د ملکداد زوی وژلی دی".

مولوي صاحب "هو مجو په دې کې شک نشته. وماته په خپله ملکداد وویل".

مجید اکا "مولوي صاحب! بیاخو پکار ده چې موږ په دې خپلو ږیرو کې تو کړو چې پر نیمه شپه، د وړو یتیمانو په کور کې ناست یو. ومور ته یې سوالونه او زارۍ کوو چې ته و یتیمانو ته د پلار قاتل ور پلار کړه".

مولوي صاحب "مجو موږ خو یې د را روان وخت غم کوو. موږ وایو چې سره میراث خوارهٔ دي، گوندي دا خبره ورکه شي. په را روان وخت کې به بیا گزک نهٔ کوي.

مجو ما هم اول داسې محسوسوله چې بختیالی نهٔ ده خبره، لکه څنگه چې په سړه سینه رېغېدم، مجو که څهٔ هم زهٔ غلط وم چې بختیالی نهٔ ده خبره.

مولوي خیر دی خبره دي وي. پرېږدی چې څو شپې نخرې وکړي بیا بهٔ خوشاله وي، د ملکداد زوی بهٔ کوي.

مجو تهٔ خو خبر یې. د ملکداد تر مخ ډېر لوی. لوی سړي نه ښي رېغېدای. بختیالی خو هم څهٔ بالښته نه ده".

مجید اکا: "مولوي صاحب! کومه بالښته؟".

مولوي صاحب "ولي نهٔ دي دي اورېدلي ...

قام دې هېردی دلسته نسته     پر تا جنگ کوي بالښته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماځیګر وهی لمر تانګه پر تابالښته جنګېده
لچ یې مات وی دا ورغښته تر مړو بهه وه بالښته.

دې غاړو و بختیالۍ ته دومره حوصله ور کړه چې راغله پر بستره داسې وغځېده، لکه له دې سره چې هیڅ هم نه وي شوي، تر سهاره پهٔ خوارهٔ خوب ویده وه. سهار چې را پورته شوه، سترګې یې رنې وې، داسې یې محسوسوله لکه دا چې بالښته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 4

ځوشپې پس چې بختیالۍ یو سهار را پورته شوه، د پلار د کور سودا ورولاړه شوه، مرغسن وو (نرۍ وریځ) چې د کور د خونې دروازه یې کولف کړه، را ووته د خپلو ماشومانو تر غوږو یې څادرونه وترل، روانه شوه.
پهٔ لارې چې څه لاړه اسمان ته یې وکتل، وریځې بنهٔ ځان سره ور کړې وو.
یو ځل یې لا دا اراده وکړه چې بېرته وګرځه، نن ورځ سړېچنه ده (سړوکې) بیا یې توکل کړی ماشومان یې پهٔ مخه کړو، روانه شوه.
غټوکي لور او زوی یې بنهٔ وو، هغه د پر وړکی ورور دوی پهٔ غېږ کې یوار یوه بیا بل اخیستو، هغه لږ غټوکی دې پهٔ غېږ کې اخیستی وو.
یو وخت چې یې پر پښو روان کړی، لورکۍ یې تر لاس نیولي وو، د بختیالۍ ور پام شو، کمیس یې پهٔ غاړه وو، پرتوګ یې نه وو.
د لارې پهٔ منځ کې کښېنستو، غوټه یې خلاصه کړه، دلته یې پرتوګ پهٔ ور پهٔ پښو کړی ،سوکه ،سوکه د ماشومانو پهٔ تګ سوکه تګ پرېکړی ،د غرهٔ لمنې ته ورسېدو ، د انا ګیانو پر چینه کښېنستو ، غوټه یې خلاصه کړه،د وډی یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راواخیسته، پیاز یې سپین کړی ، دوډۍ یې پوري وخوړه،ماشومان او ځان یې په لیو اوبهٔ کړو ، هم یې د ماپښین لمونځ وکړی بیا یې مخه وکړه.

اوس نو د بابا کور ډېر لرې نهٔ وو ، پهٔ تلو، تلو کې د ما شومانو و دې ته پام شو، ناره بهٔ یې کړه ،له هغې خوا بهٔ پهٔ دره کې ددوی دغ بېرته راغبرګ شو.

دا رنګه روان وو، د بابا وکور ته یو مغزی (لوړه اوکږه لاره) پاته وه ، مېده ، مېده څاڅوکي هم شروع شو.

پهٔ مغزي ور واوښتو، د بابا کیږدۍ یې وپېژندله، چې ولاړه وه، ډېر یې زړهٔ ښهٔ شوچې مېلن (د کوچیانو کلی)ته لا پهٔ کډه نهٔ وه تللی.

د بختیالۍ د ورې خورکۍ زرکې چې دوی پهٔ سترګو شو، نارې یې کړې "مورې! خورکۍ راغله".

مور یې مخ له وراغله، لاس یې پهٔ اوړو وو ، پر بختیالۍ یې غېږ وګرځوله، کور ته چې ورغلو مور یې تبخی واړوو ، دستي یې چای پخې کړې ، مور چې یې چائینکه را کوز وله "بختیالۍ ! دا ماشومان بهٔ دې پهٔ یخ وژلي وي، وار بهٔ دي کاوۀ ، چې ورځ توده شوې وایې بیا بهٔ راغلې وې".

بختیالۍ چې پهٔ خپلو تودو لاسو کې د ماشوم لاس نیولي وو "مورې! بس تر وس مې تېره شوه ، نور مې نهٔ ښو ځغملای ".

دوی ته یې چای وراوړلې ، دوی چای څښلې ، مور یې ښې تورې او سپینې غوښې پهٔ کټو کې واچولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ماښام ته یې بابا هم راغلی مېږې یې وځکولې ،په سیَب یې دننه کړې.

له روغبړه وروسته یې مور ښهٔ غټه کاسه، وره ډوډۍ ور واړوله ، پهٔ بله کاسه کې یې، ښې تورې اوسپینې غوښې. د دې سترې ماشومان چې پهٔ تورو سپینو ماړهٔ شو، خوب ورغلی.

مور یې وتولو ته ځای ور هوار کړی ، یو یو یې تر لاس نیوو، ځای ته یې بېول.

له هغه وروسته پهٔ ځراغ کې تېل ختم شو ، بابا یې بالښت ته پروت وو ، د اور پهٔ رڼا کې دې لیدو چې دپتکي ځاک یې پهٔ خولهٔ او بربتو پورې مښلی.

له دې خبرې سره سم را پورته هم شو "لورې ! دا ډېر وخت ښار ته نهٔ یم تللی، ځکه تېل نشته".

پهٔ خبرو ، خبرو کې بیا دې ته راغلی "بختیالۍ ! دا خبره څو مره حقیقت لري، ستا مېږهٔ دې خلګو وژلی دی ، لورې که رېښتیا ووایم، زما اوس هم یقین نهٔ راځي".

بختیالۍ چې سترګې له موره دهٔ ته، ور واړولې " هو بابا زرینه ورسره وه ، هغې پهٔ خپلو سترګو لیدلی دی".

بابا "دا تهٔ څهٔ وایې؟ لورې هغه ورځ خو هم تا دغه وویل ، خو زما یقین نهٔ پر راتلو".

بختیالۍ "دوې کیسې دي بابا ، یوه خو دا چې ما یې زوی د اوبو رګو پهٔ لار کې وتاړه بل یې زما له مېږهٔ مځکه غوښته".

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا : "ستا د مېرهٔ مځکه څه غواړي ؟،هغه خو يې وماته راکړې ده".

بختيالی : "بابا پهٔ کلي کې زموږ د يوه سرای مځکه نهٔ ده ، دا مځکه ډېر اوږدهٔ او وسارهٔ لري ، د دهٔ د مځکې پهٔ ميان کې ده ، د دهٔ مځکه يې سره پرېکړې ده ، دهٔ دا غوښتو چې دا زموږ مځکه دځان کړي ، وموږ ته د دې پهٔ بدل کې بله مځکه راکړي .

پهٔ څو، څو واره يې خلګ ورته راولېږل، خو دهٔ سودا نهٔ ورسره کوله.

زوی يې بيا چرسک،غل او بدره دی ، دا څو کاله پهٔ جېل کې وو ، چې راخلاص شو بيا يې دا حرکتونه کول".

تو له کيسه يې بابا ته پهٔ زېرو زور وکړه.

بابا يې پټکی پر سر کړی ، د ولاړېدو هڅه يې کوله "و خورې دا دی مخ لکه د سبب کښته.(تو که يې پرې وکړه ) خو مخ بهٔ دې ورښکاره کاوۀ ، چرسک شی وو، هغهٔ د ورېندارې پهٔ عزت څهٔ خبر دی. چې ستا مخ يې ليدلی وای، بله ورځ يې پهٔ خدای که ستا پهٔ خوا کتلي هم وای.

د دهٔ خو دې قد و قامت، ښا هسته تګ خوښ شوی دی".

بختيالی د بابا ومخ ته کتل "ملامته يم ، مور خوارې پهٔ څو، څو واره راته وويل، دا! مخ مهٔ پټوه ، دا مخ پټول بهٔ دې يو ورځ پهٔ يوه لويه بلا واړه وي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا چې څادر اغوستو : "سم یې درته ویلي دي" پښتنو کله کلا ګانې درلودې؟ ،کله یې ښځې په پردو کې نغښتې؟ ،لکه دا اوس چې مونږ کوچیان یو.

ټول پښتانه دا ډول ازاد خلګ وو ، داسې ازاد ژوند یې وو لکه دا مونږ ،د اکثرو کیږدۍ وې یا یوه ،یوه خونه ، چې چا، چاردېوالي پېژندله نه، دا زمونږ په ډول یې ښځو کارونه کول ،دا بېخي لږ وخت کېږي چې په ښځو یې مخ پټول او پرده کوي ،پر کورو یې چاردېوالۍ شروع کړې.

خو اوس یې لا د ډېرو کورو چاردېوالۍ نشته ، خونې یې ته په خپلو سترګو وینې.

لورې! زه اوس څه وکړم ؟".

بختیالۍ چې یې څپلۍ سمولې "بابا ته هیڅ هم مه کوه ، مه په دې کیسه سر خلاصه وه ،مه کار په لره ، نه ستا لاس په ننبلي ، زه پوه شوم او زما کار.

ته ځان داسې واچوه چې زه بېخي په هیڅ هم نه یم خبر ". شپه ډېره تېره وه ، سهار نږدې وو چې دوی ویده شو.

سهار چې بابا له مېږو سره ولاړ ، مور یې اوبو ته.

دې صندوخ خلاص کړی، د هغه سرې او بابا عکسونه یې را واخیستو ، پکښې وېې کتل ، هغه عکس یې پیدا کړی ، چې له شا په شنه قلم یو څه پر لیکلې وو.

ورځ تېره شوه ، شپه راغله، بابا ته یې وویل "زه سبا کور ته ځم ، ته یې غمه شه ، که چېرې پر ما یو تکلیف راتلو، زه به ضرور تا ته حال در کوم".

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا پنځه زره روپۍ ورکړې "دا به يو شی په واخلې ، يو مړ در کوم ، ته خو بې اوس له ځانه سره نه شې بيولای بيا به يې زه ياشمک (شمس) ورور درولې ، ماشوماتو ته به يې حلال کړې".

سهار لمر تر اوورو را وتلی وو، چې له بابا او مورکۍ يې رخصت راواخيست ، د کور په لور راروانه شوه.

ماځيګر غټ وو ، لمرو غر سره ورتلو چې را ورسېده چې دې وور بلاوو ، بسترې يې هوارولې ، تياره ماښام شو .
ماشومانو ته يې د مور ور کړې، پخې غوښې او ډوډۍ ورکړه ،سترې ماشومان يې يو، يو ويدېدو ، اخير دا هم ويده شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


5

دویم وار بیا هغه څو سپین ږیري او مولوي صاحب چې یو مجرو اکاپکې نه وو ، داسې وخت ورغلو چې د بختیالۍ غټو کې ماشومان ویده وو.
یوه دا ، وړوکی زوی په دې ډول ناست چې د وړوکي زوی سر یې پر څنګانه ینبي وو ، څنګون یې ښوراوو ، الله الله یې ورته کول "الله کوټ للو دلته مه راځه ګیدو ، لالی ویده دی په خوبو".
د مولوي صاحب د خونې په بنده دروازه کې ږغ شو "بختیالۍ تا او ماشومان خو ویده نه یاست؟".
دې یو ګړۍ غوږ کرار کړی، دویم وار یې ږغ وپېژندلی له "نه" سره سمه ورغله، دروازه یې خلاصه کړه.
د مولوي صاحب له مخه یې ویده ماشوم واخیست ، دوی پر هغه ځای کښېنستلو.
له حال احواله پس، مولوي صاحب پر ږیره لاس تېراوو ، په خونه کې یې شا و خواسره کتل، په دې چې دا ښځه دومره دلاوره ږغېږي ، داسې خو به نه وي چې یو څوک په دې خونه کې ورسره ویده وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې په نصیحت کولو شروع وکړه ، په نصیحت کولو، کولو کې یې بیا د نکاح خبره وریاده کړه.

بختیالۍ مخ ور واړاوو، لاس یې له خولې واخیستو "دې خو به شرم نه لري له خدایه به نه وېرېږي ، تاسو خو له خدایه ووېرېږئ ،د خدای جواب به څنګه وکړئ؟ چې د یوه ظالم ملکداد جواب نه لرئ ، خدای به دا پوښتنه نه کړي درڅخه وه چې دې کونډې او وړو یتیمانو، په دې تورو د بوالو کې پنځه، شپږ میاشتې تېرې کړې ، تاسو یې یوه هم پوښتنه وکړه؟".

مولوي صاحب جېب ته لاس کړی تسبې یې راکښې "هو بختیالۍ ملامت یو".

نن د بختیالۍ سترګې له خپلو ماشومانو نه را اوښتې "مولوي صاحب ! که تاسو را شئ که نه شئ ، پر ما داشپه و ورځ هغه رنګه تېرېږي ،ژړوي مې دا ځای چې څنګه په دې دومره کلي کې یو سنت وهلی نشته چې راشي د دې وړو ماشومانو حال وکړي چې څه حال مو دی ، یو څه په کور کې لرئ که نه یا خو ناروغه نه یاست ،د یو ظالم له وېرې تولو سترګې پټې کړې دي ، څو میاشتې وشوې چې زه او دا واړه په دې سرای کې شپې او ورځې تېره وو ، بیا چې وار د ده شي، نه له دې خپلو سپینو ږیرو شرمېږئ ،نه له ما ، نه د دې وړو یتیمانو له حقه وېرېږئ.

تاسو که نه له خدایه وېرېږئ، نه د ماشومانو له ازاره ، زه هم د مېړه هم د یتیمانو له حقه وېرېږم ،دا منم چې زه یوه ښځه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library


، هیڅ مې هم په وس نه دي پوره ،دا به وکړم، مرګی به قبول کړم ، یتیمانو ته به د پلار قاتل نه کړم ور پلار".
نورو سپین ږیرو سوالونه بس کړو ، خاموشه شول.
خو د مولوي خوله نه سره ور تله.
مولوي صاحب: "ته لېونۍ یې چې د وړې نجلۍ خبرې مني.؟
بختیالۍ اخیر خبره داسې ور خلاصه کړه.
"مولوي صاحب ! دا خو به وخت ثابته کړي چې زه لېونۍ یم که تاسو یې لاري ، په دې سر خلاص کړی، چې پر دنیا نر ودریږي په خدای که ما د ملکداد زوی وکړی".
دوی هم یوه ،یوه غاړې تازه کړې، خپل ،خپل (څادرونه)یې وڅنډل، ولاړ شول ،شپه تېره شوه.
سهار ملکداد په خپله ورغلی "بختیالۍ زه سوال درته کوم، داسې وکړه دا زما زوی وکړه، ته یې ډېره خوښه یې".
د بختیالۍ بارې (جارو) په لاس کې وو ، د خونې ومخته په سرای کې ناسته وه، نه یې یوه کړه او نه بله
"ستا زوی نه کوم چې پر سر یې را وتړې لا هم ،دا نېکي وکړه، ما له دې خپلو ماشومانو سره پرېږده ، زه له مېړه بېزاره یم ، نه مېړه کوم، نه یې شوق لرم".
ملکداد چې په دې پوه شو چې ښځه یوه خوا نه کوي، نو یې له خولې لاس واخیستو
"ستا څه خیال دی ، ما چې دې مېړه دومره په هنر وژلای شو ، نو دا ماشومان دې هم یو ، یو داسې په هنر وژلای شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه خوښه دې دا ده چې دا ماشومان دې یو، یو داسې پهٔ هنر در مړهٔ کړم لکه مېړهٔ، بلکه دا چې زما زوی پهٔ خوشالي وکړې ،زهٔ د زوی پر غم نهٔ یم ،پر دې یم چې تهٔ زما زوی وکړې ، که دې سبا زامن لوی شي هم، دا شک بهٔ یې نهٔ راځي چې زموږ پلار دهٔ یا د دهٔ زوی وژلی دی".

بختیالۍ چې د دهٔ خبرې واورېدلې، باره پهٔ لاس کې حقه حېرانه شوه او سوچونو واخیسته.

"یو خو یې زما مېړهٔ رامړ کړی او پهٔ ډاګه یې مني هم ، بیا دا سر زوري ، د ماشومانو د وژلو تر وخت له مخه خبرتیا هم راکوي له دې زوی مړې څخه بهٔ پهٔ چل کار اخلم".

له څهٔ خاموشي پس یې ډېر پهٔ عاجزي وویل

"سمه ده، دوې شپې مهلت راکړه".

ملکداد "دوې نهٔ، درې ورځې مهلت در کوم".

له ځان سره یې واړه ، واړه خندل، ولاړ شو.

دا پهٔ دغه شپهٔ د دینک کور ته ورغله ، تو له کیسه یې ورته وکړه او هغه عکس یې ور کړی پر کوم چې ایډریس لیکلی وو.

دینک پهٔ هغه سهار وختي ملکداد ته ورغلی "زما ښځه ناروغه ده ، که دې یو زر دوه روپۍ راکړې ، ډاکټر ته یې وړم".

ملکداد خندل چې روپۍ یې ور کولې "هلکه دا د یار ښځه خو دې پوهـ کړه، که در څخه مني چې دا زما زوی وکړي".

(c) ketabton.com: The Digital Library


دهٔ یې له لاسه روپۍ نیوې "سمه ده، تهٔ فکر مه کوه چې زهٔ له هغې خوا راشم".
دی پهٔ دروازه کې ولاړ وو، د بختیالۍ د کور پهٔ خوا یې کتل "مابښام ته بهٔ راځې؟".
دهٔ هم د بختیالۍ د کور پهٔ لور سترګې ور واړولې، پهٔ زړهٔ کې یې پهٔ خپل کردار خندل "نهٔ دوې شپې پر هغه خوا کوم، د لور مې اوس کال وشو، نهٔ زهٔ ورغلی یم نهٔ یې مور، دوې شپې له لور سره کوم".
دهٔ بېرته مخ د دینګ پهٔ خوا واړاوو، کتې، کتې ویې خندل "هلکه دینګه دوې ورځې پس خو بهٔ یا نوره وې یا نسکوره".
دینګ روان شو، خپله ښځه یې ډاکټر ته بوتله، د شپې بختیالۍ خپله غوټه تیاره کړه، څو واره ووته، شا و خوا یې وکتل، څوک نهٔ وو، نهٔ د چا ږغ وو.
خپل ماشومان یې پوهـ کړو "که چیري تو خه در تلهٔ، پر خولهٔ لاس نیسئ".
ځان یې ښهٔ مطمئنه کړی، ماشومان یې تر لاس ونیول، د دېوال له سایې سره، د څورلسم د سپوږمۍ پهٔ رڼا کې یې ډېر پهٔ چټکې ګامونه ښودل چې سپوږمۍ بهٔ پهٔ وورو کې پټه شوه، د دې بهٔ سا سمه شوه، لکه چې وایي "او بو اخیستی ځګ ته هم لاس اچوي".
یو وخت یې شرنګې تر غوږ شو چې تر شا یې وکتل، سپی ور پسې وو، مېږوی یې کښلي وو، د غاړې ځنځیر او مېږوی یې شرنګې کاوهٔ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دې که له وېرې ډغ تر خولۀ نۀ وتو بيا يې هم دا هڅه کوله چې لوټې ور غورزوي ، سپي وګرځي.
د محمد دين د انارو تر باغه ، پۀ باغ کې څۀ تګ مشکل وو ، د ونو او بوټو پۀ وجه، ځکه څۀ وځنډېده.
چې دا ور ورسېده، دينک د موټر ډرائيور ډېر ستړی کړی وو ، پۀ څۀ شوه،څۀ شوه هغه ستا ښځه.
دی نه وي، تۀ ما پۀ يو بلا وخورې.
چې بختيالۍ و ماشومان ور ورسېدو، پر ډرائيور د اختر ورځ شوه.
دومره پۀ تازيله يې موټر روان کړی لکه يو څوک چې دی ويني، ور پسې وي.
يو زوی يې پۀ روان موټر کې، پۀ سپي پسې تر شا کتل چې سپی پاته شو.
دۀ پۀ ژړغوني ږغ وويل "مورې ! زموږ سپی؟".
دې زوی پر مخ مچ کړو "زويه ! دينک کاکا بيرته راځي ، کور ته يې بيايي".
پۀ لارې هغۀ ښارګوټی راغلی، پۀ کوم کې چې د دينک د لور کور وو او هم موټروان د دې ښارګوټي وو.
د لور کور يې له لرې وه بختيالۍ ته ور وښودی.
پۀ تلو، تلو کې، وسهار ته نزدې يو بل ښارګوټي ته ورسېدو ،دوی شپۀ پۀ ناسته تېره کړه ، ډرائيور ويده شو.
سهار چې يې لمنځونه وکړو . چای يې وڅښلې بيا يې مخه وکړه ،ماښپين قضا وو چې هغه ښار ته ورسېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دې ماشومان ډېر حېران ول چې دا بیا څه رنګه ځای دی، څومره ډېر موټران دي پکې چې کله یې د خره ټانګه ولیده ،نارې کړې "ادې ادې هله وی په خره یې ګاډی پسې کړې ده ، سړی پکې ناست دي"

بل چې رکشه ولیده ورته حېران و چې دا بیا څه رنګه شی دی په درو پیو روان دی ، په ښار کې ماشومان روان وو ، دوی ورته په سوچ کې وو چې دا خو یې زموږ رنګه کالي نه دي ، لمن یې نسته ، تر شا د چا توره تېلۍ ده چا شنه تېلۍ چا رنګ په رنګه لوتي ترلې وې ،دوی پوښتنه هم نه شوه کولی چې دا څنګه شیان دي ، خو بس حېران دریان یې یو بل خوا ته کتل.

ډرائیور په ښار کې یې یو چا ته هغه ایډریس ور ښکاره کړی، هغه داسې وویل"سیده ورځئ، تر هغه وخته چا ته مه درېږئ ، تر څو چې یو لوی چوک د راځي ، پر چوک له یو چا پوښتنه وکړی، هغه به یې در وښايي، ډېر مشهوره سړی دی ، هر څوک یې پېژني " پر چوک یې له یو چا پوښتنه وکړه، هغه یې دوکان ته لاس ونیوو

"هغه مخامخ دوکان یې دی" دینګ ور کښته شو، دوکان ته ورغلی ، یو سپین ږیري سړي ته یې هغه ایډریس ورښکاره کړی.

هغه چې لیکلي ولیدل، یو ګړی په سوچ کې لاړ ، هم په هغه سوچ کې یې کاغذ واړاوو چې عکس ته یې په غور وکتل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

عکس یې وپېژندلی ، په سپینو چشمو کې یې سترګې
دینک ته ور واړولې، په وړه خندا کې
"وبخښه، ښځي ډېر وخت تېر شوی دی ، د تورکاڼي د اینځر
زوی یې؟".
دۀ چې د شاه جي و تکو سپینو وښتانو ته کتل "نۀ نۀ نوم
مي دینک دی ، صرف مې د اینځر لور او لمسیان تر تا پوري
را وستل، ما ته اجازه راکړه ، زۀ ځم ، د کرایې موټر مې
راوستی دی".
دۀ چشمې له سترګو لرې کولې "د خدای بنده، خو په بس کې
بۀ را تلاست ، دومره کرایه؟".
له ډېره سته پس، شاه جي رخصت ور کړو.
دینک روان شو، پر شا یې ور وکتل "د خدای په امان، نوره
کیسه بۀ بیا بختیالۍ درته وکړي".
بختیالۍ او ماشومان یې د دوکان مخته کښته کړو، دی
روان شو،شاه جي له بختیالۍ سره روغبړ وکړ،د خپل
همسایه رکشه یې را وغوښته ، بختیالۍ او ماشومان یې
کور ته ولېږل.
کور ته چې ورغلو ، د رکشې والا د شاه جي ښځه پوهه کړه
چې "دا د شاه جي مېلمانۀ دي ، ښځي له لرې راغلي دي،
باید ښۀ خدمت یې وکړي".
د شاه جي ښځه جبینه پۀ پښتو پویده، خو وئیلای یې ښه نۀ
شوه ،پۀ ډېر زحمت یې بختیالۍ پۀ خبرو پوهوله یا پوهیده.
جبینه د بختیالۍ او ماشومانو ته ډېره حېرانه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حېرانه پۀ دې وه چې دې پښتنې دېرې ليدلې وې ، د ښار نۀ ، د غرنو.

د دې اوږدو جامو او لړلو ماشومانو ته بۀ خود حېرانه وه ، چې نۀ يې داسې جامه ليدلې وه، نۀ يې داسې لړلي ماشومان ،ماښام شاه جي هم راغلی، له بختيالۍ يې ښه د کور ، بابا او ټولو پوښتنه بيا وکړه.

له ډوډۍ خوړلو پس، شاه جي لاس پۀ دسمال پاکول ويې خندل "بختيالۍ لورې! که ستا پۀ ياد وي چې ستا بابا بۀ ويل چې يو متل دی (مور مېلمه له هوره پس پوښتو) اوس نو حال راکړه، تۀ او ښار ته له دې ورو ماشومانو سره راتلۀ".؟ بختيالۍ شاه جي ته مخامخ ناسته وه ، خپل لستونی يې د پکي پۀ ډول د ګرمۍ پۀ وجه ښوراوو.

له هغه وخته يې کيسه شروع کړه چې دی ورغلی، د دوی پۀ کور کې اوسېدۀ.

پۀ غرۀ کې يې سروې کوله ، نقشې يې جوړولې بيا تر دغه ماښامه چې دا له شاه جي سره، د دۀ پۀ کور کې ناسته وه. جبينې د دې د ماشومانو ځايونه هوار کړو ، يو، يو ويده پډل، ټول ويده شول.

شاه جي که څه هم د بختيالۍ ومخ ته کتل، خو سوچ يې پۀ هغه تېر وخت او د دې د بابا پۀ کور کې ؤر.

بې پامه يې اوف کړو، ولاړ شو، پر لمانځۀ ودرېدو. بختيالۍ ته ور پۀ ياد شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ریښتیا، ریښتیا، شاه جي چې بهٔ لمونځ کاوۀ، یو خوبې لاس پر نامهٔ نهٔ نیول او بل یې د خاورو تیکی مخته شوده".

شاه جي چې لمونځ وکړی بیا راغلی، جبینې شنې چای راوړې، پیالې یې ورډکولې دهٔ څښلې، بختیالی ته ږغېدو "زهٔ او جبینه په دې کور کې دوه پهٔ دوه یو، یو زوی لرو، هغه هم د وادهٔ او بچیانو خاوند دی ،د څنګ پهٔ سرای کې اوسي ، یوه دي پهٔ دې ده چې له مورې سره پهٔ دې سرای کې ګډه اوسې او بله خوښه دي دا ده چې د دې کوټې پهٔ اخیره کې، زما خالي سرای دی ، هغه درکړم، تهٔ او خپل بچیان پکښې اوسی".

بختیالی: "ما ته هغه سرای راکه، بس زهٔ او بچیان بهٔ پکښې اوسو".

شاه جي د ېوال ته نژدې شو، شا یې وهله"سمه ده چې څنګه تهٔ خوشاله یې ، یو کار ته وکړه ، ضروري هم دی ،که زخمونه جوړوې، نو دا انتقام اخیستل له ذهنه څخه وباسه، نور هر څهٔ اسانه دي".

شپهٔ سهار ته نژدې وه چې دوی تول ویده شول.

بختیالی ته دا څهٔ عجبهٔ ښکارېده چې هلته یخ وو. مورې پهٔ خونو کې ویدېدو او دلته بیا ګرمي ده، د خلګو ګرمي کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ریښتیا، ریښتیا، شاه جي چې بهٔ لمونځ کاوؤ، یو خویې لاس پر نامهٔ نهٔ نیول او بل یې د خاورو تیکۍ مخته شوده".
شاه جي چې لمونځ وکړی بیا راغلی، جبینې شنې چای راوړې، پیالې یې ورډکولې دهٔ څښلې، بختیالۍ ته ږغېدو "زهٔ او جبینه پهٔ دې کور کې دوه پهٔ دوه یو، یو زوی لرو، هغه هم د وادهٔ او بچیانو خاوند دی، د څنګ پهٔ سرای کې اوسي، یوه دې پهٔ دې ده چې له مورِ سره پهٔ دې سرای کې ګډه اوسې او بله خوښه دې دا ده چې د دې کوټې پهٔ اخیره کې، زما خالې سرای دی، هغه درکړم، تهٔ او خپل بچیان پکښې اوسی".
بختیالۍ: "ما ته هغه سرای راکه، بس زهٔ او بچیان بهٔ پکښې اوسو".
شاه جي دېوال ته نژدې شو، شا یې وهله"سمه ده چې څنګه تهٔ خوشاله یې، یو کار ته وکړه، ضروري هم دی، که زخمونه جوړوې، نو دا انتقام اخیستل له ذهنه څخه وباسه، نور هر څهٔ اسانه دي".
شپهٔ سهار ته نژدې وه چې دوی تول ویده شول.
بختیالۍ ته دا څهٔ عجبهٔ ښکارېده چې هلته یخ وو. مورِ پهٔ خونو کې ویدېدو او دلته بیا ګرمي ده، د خلګو ګرمي کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که بيا موږ ستاپۀ ځای کې يوه شپۀ هم وکړو ،له موږ سره روپۍ ډېرې دي، تۀ صرف وما او زامنو ته لار ښودنه کوه، نور موږ له تا هيڅ هم نۀ غواړو".

شاه جي خاخان له ځان سره بوتلو ، له بختيالى پۀ پته يې د کور پر سامان، څه د ځان روپۍ ور کړې ، سامان يې راوړو.

بختيالى خپل کور سم کړو.

شپۀ يې د شاه جي پۀ کور کې وکړه، پۀ سبا له خپل کور ته دا او زامن بيا ده نوي کور خاوندان شول

يو څو ورځې دې و ماشومانو داسې محسوسوله، لکه خوب چې ويني، د ښار پوخ کور ،د برق رڼا چې د شپې او ورځې بېخي فرق نۀ وو.

مياشت تېره شوه.

يو سهار شاه جي دوکان ته تلو، د دوی پر کور ورغلو، له حال احوال کولو پس يې له بختيالى پوښتنه وکړه "د څۀ ضرورت خو نشته؟".

بختيالى چې د جامو له مينځلو را ولاړه شوې وه، خپل غړلی لستونی يې خوراوو "نۀ نۀ شاه صاحب، د هيڅ ضرورت نشته ،که چيري د يو شي ضرورت پېښ شو ، ضرور بۀ درته وايم ، پر دې که صلاح راکړې چې خاخان پر يو کار ولګوو؟".

شاه جي چې لاس پر د ږيرې کښېښوو ":ا خو ډېره ښۀ خبره ده، تاله خاخانه پوښتنه کړې ده،دی کوم کار کولای شي يا يې کوم کار خوښ دی؟".

(c) ketabton.com: The Digital Library



بختیالی چې هغسې ولاړه وه "هسې یې پر یو کار ولګوه، په مزدورۍ کې کله دا وو چې دا کوم دا نه کوم".

شاه جي چې خپلې چشمې په سپین دسمال (چې یوه شنه لیکه هم پکښې تېره شوې وه) پاکولې "نه نه داسې نه ده، خبر زه به سوچ پر وکړم".

په دې بله ورځ شاه جي ورغلی، یو هلک بل ور سره وو، خاخان یې ورسره کړو" له دې هلکه سره لاړ شه، څو ورځې په ښار کې تېره کړه، هلکان به ووینې، څوک څه کار کوي، څوک څه کار، چې کوم کار دې خوښ شو، وماته به ووایې، هغه کار به که خبر وو، په صلاح شروع کړو".

خاخان لاړو، څو ورځې یې له هلکانو سره تېرې کړې، چا ګنجی، چاصدری، چا د پلاستیک لو تې، چا نسوار خرڅول، چا کاغذونه ټولول، چا څه او چا څه خرڅول.

په څو ورځې پس شاه جي له خاخانه پوښتنه وکړه "کوم کار دې خوښ شو؟".

خانان چې خپله خرچنه ګوته په غاښو کښېکښېله "زما د پالش کار خوښ دی".

شاه جي یوه دوکان ته بوتلو، یو وړوکی صندوخ، برش او پالش سور او هم یې تور ورته رانیول.

خاخان چې له هغه دوکانه ووتو بیا یې ناره کړه "پالش، پالش".

د پالش کار یې شروع هم په دې کړو چې دهٔ ته دا نارې ډېر خوند ورکاوۀ، پالش، بوټ پالش، یوسړي خپلې څپلۍ ورکړې "دا را پالش کړه".

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهٔ چې څپلۍ ور واخيستې، تر ډېره په سوچ کې ورته ورک وو.
هغه پر ږغ کړو "هله ماشومه، زما کار دی، تهوله ورځ خو به پردې ځای نهٔ یم ناست".
دهٔ د پالش ډبی خلاص کړو ، پالش ورکول یې شروع کړو.هغهٔ پر ږغ کړو "هلکه یوار خو یې پهٔ اوبو صفا کړه".
خاخان چې د هغهٔ سړي پهٔ خوا ور وکتل "تولې پريولم ؟".
هغهٔ چې د دهٔ ور کړې چپل پهٔ پښه کړو، ور ولاړ شو "نهٔ نهٔ، ستا اوله ورځ ده که څنګه؟".
خاخان چې پهٔ لاس کې یې د هغهٔ سړي څپلۍ وه "هو".
هغهٔ زړهٔ سواند سړي څپلۍ پهٔ خپله ورسره پالش کړې.
بس کار یې له هم دې ځايه زده شوو ،ورځ یې تر ماښامه پهٔ ښار کې تېره کړه، ماښام چې کورتـه ورغلی ، شپېته روپـۍ مزدووري یې کړې وه.
دا ډول سهار تلو، ماښام راتلو ، روپۍ یې راوړلې، کله لږ کله ډېرې، یـوه ورځ چـې پـهٔ ښـار کـې روان وو ، نـارې يـې وهلې "پالش، بوټ پالش".
يو سړي ور ناره کړه، دی ورغلی، هغهٔ خپل بوټونه ور ووکښو "دا پالش کړه، ښهٔ پالش ور کړه، هسې یې پهٔ رنګ مهٔ رنګه وه".
چې پهٔ دوکان کې یې پمبهٔ او جوړې بسترې خرڅولې.
دوه مزدوران یې د دوکان تر مخ، پر پاخه سړک ناست وو، پهٔ بستره کې یې پمبهٔ اچولې وه، پهٔ لرګو یې پکښې ټکوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوکاندار له دهٔ پوښتنه وکړه "ماشومه !داسې کور به نهٔ وي در معلوم چې سپین سرې لري ، زموږ کار ډېر دی، بسترې به پهٔ مزدوري ور کوو ، پهٔ کور کې به یې جوړوي".

خاخان "هو یوه را معلومه ده، خو زهٔ به حال وکړم".

بوټونه پالش شو ، خپلې پنځه روپۍ یې را واخیستې، روان شو، د دوکاندار بیا له شا ږغ شو "ماشومه !که یې چیرې ماشین نهٔ درلودی ، مشین به هم موږ ور کړو".

ماښام چې کورته راغلی، مور ته یې د دوکاندار کیسه وکړه ،مور یې ډېره خوشاله شوه.

له ډېرې خوشالۍ یې سر،سرتور کړی "شکر دی خدایه ،زما خو دا خیال وو چې بې مېړهٔ او بې خپلو د ژوند شپې او ورځې نهٔ تېرېږي.

زویه دا خو ډېر ښهٔ کار دی.

،زهٔ بې کاره پهٔ کور کې ناسته یم، دا کار ځینې راوړه، ښهٔ دی، یو بهٔ ما و د زرینې وخت پر تېر وي ، بل بهٔ مزدوري را کوي".

خاخان سهار دوکاندار تـه ورغلی، یـو مشین څلـور ،پنځه بسترې یې ځینې راوړلې ، ټول پر روزګار شول.

ورځ تر هغه بله ټول پهٔ ښهٔ رنګ کېدو ، هم یې روپۍ پیدا کولې، دا ډول خاخان خپل پالش کاوهٔ، مور ته یې بسترې راوړلې ، روپۍ چې بهٔ د دوی تر ضرورت زیاتېدې ،هغه یې شاه جي ته ور کولې.

یو ورځ خاخان د پالش صندوخ پهٔ کونج کې کښېښوی "مورې! زهٔ د پالش کار پرېږدم ،پهٔ هوټل کې کار شروع کوم".

(c) ketabton.com: The Digital Library



بختیالۍ چې سترګې یې د پالش په صندوخ کې وې "زویه ! د هوټل کار به ګران وي، نه به یې شې کولای".

خاخان بې کمبلې پر فرش وغځېدو،

"مورې ! ځان به پرې وګورم، که چیرې ګران وو، پرې به یې ږدم، د پالش کار خو بیا هم شته".

بختیالۍ چې کمبله هواروله

"زویه ! له شاه جي سره به مشوره وکړو".

خاخان چې را پورته شو، د کمبلې په لور روان وو "سمه ده مورې ! سبا به زه شاه جي ته ورشم".

بختیالۍ چې د هوارې کمبلې وخنګ ته کښېنسته "نه نه زویه، زه به خپله ورځم".

بختیالۍ سهار وختي د شاه جي کور ته ورغله چې خاخان داسې وایي "ما په یو هوټل کې کار موندلی دی، زه په هوټل کې کار کوم

ستاڅنګه خوښه ده؟".

شاه جي چې یوه وړوکې کتابچه یې په لاس کې وه "کار دې کوي، بې کاره دې نه کښېني، ګټه دې نه راوړي، خو کار دې نه پرېږدي".

له دې ورځې خاخان په هوټل کې کار شروع کړو، د هوټل کار ک
څه هم ګران وو بیا یې غرمه او ماښام ښې غوښې هم ور کولې
په اوله ورځ چې د هوټل مالک لمانځه ته لاړ، دی پر چوله ولا
دو چې چائینکه به پخه شوه، تو یده، ده به له وار خطایي د خپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر، سپنکی خولی له سره را واخیسته، چائینکه بهٔ یې پهٔ ونیوله، له چولې بهٔ یې را ویسته.

ډېره موده یې پهٔ هوټل کې کار وکړو ، د هوټل مالک ډېر ځینې خوشاله وو.

یوه ورځ خاخان نهٔ راغلی، له هغې ورځې ورک هم شو، د هوټل مالک بهٔ تل دا فکر کاوۀ چې "داڅه شو؟ حساب یې هم پاته دی، نهٔ یې دی وړی".

(c) ketabton.com: The Digital Library



7

کله چې د بختیالۍ دویم زوی محیب الله د اووۀ کلونو شو، شاه جي پۀ سکول کې داخل کړی.
یو څۀ وخت يې تر لاس نیولی، سکول ته يې بېولو، اوس نو هغه وخت نۀ وو چې محیب يې تر لاس نیولی، سکول ته يې بیولو.
یوه ورځ خاخان له وروره سره پۀ دې وختي ووتو، چې پۀ سکول کې يې څو کاله وشو، یو څۀ زده کوي هم ، که هسې ورځې وخت تېروي.
له استاده بۀ يې پوښتنه وکړې بیابۀ خپل هوټل ته لاړ شې
له مور سره پۀ کور کې زرینه او تر ټولو وړوکی ورور چې اوس د پنځو کلونو وو، حبیب الله پاته شو.
د بسترو دوکاندار خپل موټر راوستو، د دوی له کوره يې جوړې بسترې وړلې ، د موټر دتلو پۀ وخت کې، حبیب له شاپۀ موټر تال شو.
موټر چې د دوی له کوځې بله کوڅه ته ګرځېدو، حبیب له موټره توپ کړو، سر يې پر پاخۀ سړک ولګېدو چې بېخي يې اندازه ویني يې له مات تندي څخه تلې چې اکثره خلګو ویل "یو رګ يې پرې شوی دی".
د کوڅې پۀ سر کې، د دوی همسایه هندو دوکاندار، پۀ بل موټر کې واچاوۀ، هسپتال ته يې یو وړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل زوی یې بختيالی ته ولېږلو چې هسپتال ته دې راشي.
هغهٔ د موټر والا دوکاندار چې ( د دوی له کوره یې بسترې اخستي وې) خه تللی وو، له شا یو سکوټر والا ورغلو "پهٔ موټر دې له شا یو ماشوم ټال وو، ولېږدو".

هغهٔ هم خپل موټر بېرته را غبرګ کړو، هسپتال ته ورغلی چې دی ورسېدو، رام داس خپله وینه پهٔ لېبارټرې کې بدله کړې وه، پهٔ بدل کې یې د ماشوم له وینې سره سمه وینه راوړې وه.

پهٔ دې وخت کې ترسیم مسیح هم راغلی چې هم د دوی همسایه وو، هم یې پهٔ دې هسپتال کې د صفای ډیوټي کوله.
چې هغه وینه پرختمېدو شوه، ډاکټر نارې کړې " یو ګوډی وینه نوره هم پکار ده".

ترسیم چې د ډاکټر له را وتو سره سم ولاړ شو "رام داسه! د دې ګروپ د وینې یو سړی وماته معلوم دی ، زهٔ یې راولم".

رام داس ناست وو ، د ولاړېدو هڅه یې کوله "ترسیمه! ستا وینه بهٔ بدله کړو، دی نهٔ وي هغهٔ سړی رانهٔ شي".
ترسیم روان وو، مخ یې پر شارا واړاوو "دستي یې راولم".
رام داس: "درسره را بهٔ نهٔ شي، یا بهٔ پرځای نه وي".
ترسیم: "نهٔ نهٔ خنګه بهٔ نهٔ راځي".

یو ګړی وروسته ترسیم خپل وررور جهدي راوست، له هغهٔ یې وینه وکښه. چې وماشوم ته دویم ګوډی وینه ور جاري کړل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه جي،بختیالی اوخاخان هم راورسېدو چې کله بۀ بې ورو کې زوی زګېروی شروع کړو، دا بۀ بې اختیاره ور ولاړه شوه "جار،قربان مور د جار شه،مور دې صدقه شه، چې د خدای در باندې لوربېږي، مور څۀ کولای شي، جار خدای پاک دې دا خوږ در څخه واخلي ،جار خوږ دې پر کانړو او بوټو شه ،خپلې لاړې دې دوا شه".

له هره آه سره بې دا ویل ، ورته ولاړه بۀ وه.

د ماشوم دوې شپې، دوې ورځې پۀ هسپتال کې وشوې.

د کوځې نر او ښځې راتلو سُني، نۀ شیعه، نۀ عیسای او نۀ هندو پاته شو.

ټول بۀ پۀ ورځ کې یوار راتلو ،پۀ هغۀ ساعت خاخان لا هم نۀ وو.

د حبیب حالت ښه نۀوو ، ګړی پۀ ګړی بې رنګ تغیر خوړلو.

بختیالی ټوله شپۀ پۀ ناستې ورته تېره کړله.

سهار له لمانځۀ وروسته چې بختیالی د زوی کټو له راغله چې ګوري بې، حبیب هیڅ حرکت نۀ کوي. نارې بې کړې "هله ډاکټر صاحب! هله دا حبیب ولې نۀ ښوري ؟".

نرسې پۀ منډه ډاکټر راوستو، ډاکټر له کتلو وروسته، نرسه ته پۀ هغه ژبۀ یو څه وویل، چې دانه پۀ پوهېده.

ډاکټر روان شو، نرسې بې: پزې او خولې څخه پائپونه کښلو، دا بې سر ته ولاړه وه، پر سر بې لاس ور یښی وو ، له سترګو بې اوښکې څڅېدلې ،شا و خوا بې ونورو ناروغانو ته کتل او د زړۀ له زوره بې ژړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


حبیب وفات شو، د کوڅې ټول خلک ورغلو چې کله له هسپتاله کورته راغلو، خپل وړوکي زوی یې د کوڅې خلګو یو وړی، خاورو ته یې وسپارلی.

له هغه وروسته به بختیالی اوخاخان دې ته حېران وو چې داخلک خو نۀ زموږ د ژبي دي، نۀ د مذهب بیا ولي نۀ څان سپموي نۀ مال ؟.

څو، څو واره هغۀ دوکاندار، له څو کسانوسره (چې د دې زوی یې پۀ موټر وژلی شوی وو) د دوی کور ته ورغلی "مابۀ بخښې، له ماخطا وشوه، اوس تاسو پور راباندي ږدی، زۀ بۀ یې درکوم".

بختیالی تر دې خبره نۀ شوه تېره چې "وروره ستا لۀ ماسره څۀ دښمني وه، داپېښه وه وشوه، مابخښلی یې، له ما خلاص یې، هم پۀ دې دنیاهم پۀ هغه". دوکاندار خاخان ته پۀ دسمال کې غوټه روپۍ ورکړې.

بختیالی چې ولېدې "داڅۀ دي؟".

دوکاندار "یو څو روپۍ".

"بختیالی ولوړل (قسم یې وخوړ) که زۀ ستایوه روپۍ واخلم".

دوکاندار چې را ووتو ، شاه جي ته یې روپۍ ورکړې "داپۀ یو ډول پۀ واخله. داڅۀ ډول ښځه ده، ماپۀ خدای که داسي غیرتمنه ښځه تر اوسه لیدلي ده".

روپۍ یې د شاه جي پۀ لاس ورکړې، دوی روان شو. د فاتحې یو څو ورځي وروسته ،غرمه وه، مور یې د دوکاندار له پاته بسترو، یوه نیالي پۀ برامده کې هواره کړې وه، ګندله یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له شا د حبیب ږغ شو "موري ! وه موري !".
دې تر شا وکتل ، چارچېره تور دېوالونه یې تر نظر ویستو، حبیب نۀ وو.
له ځان سره یې پۀ سوکه، افسوسناکه اواز کاکړۍ ویلې

پر دنیا نازک له کمه | لېونی و ږغېدمه
مور یې خنګه هېره وي | سې جنازه بل زبان وړي
شک بۀ کاږم نۀ راځي | د ډوری نښتــه دروازې
دا د ده د خپل خپلوي | اوس د هندوان قربیان د ي
ستادزړۀ پر دېوالـــو | د مرګ تاریخ لیکم ګرانو
چاته نۀ دی وربښکاره | تـاکې مه ستاله غمو زړۀ
زما پۀ غم نۀ راګډېږي | خاندې خلګ ګرانه ګایږي
ځله خوري مه سږي زړۀ | ستا پر ډوری کاني پراتۀ
ستا لمبې مه زړۀ سوځي | صبـر د راکـې الـهـي
لمرد سوځي مځکه سره | پـر تـا د رب وکي سایـه

مور یې پر خپل وروکي، وفات شوي زوی، جوړې کړې کاکړۍ ویلې
محیب پۀ دروازه کې ودرېدو، د مور پۀ ژړغوني ږغ کې یې کاکړۍ غاړي اورېدلې، چې پۀ دروازه کې پۀ درېدوسترړی شو، دننه ورغلی.
مور چې دی ولیدو، ستن یې پۀ نیالي کې جګه کړه، ولاړه شوه ، اوبۀاو ډوډۍ یې ورته راوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



8

خاخان پرېولی سر ږمنځلی "مورې! ان مې يو کار پيدا کړی دی ، که ستاخوښه وي"-

بختيالی چې سترګې يې د دهٔ پهٔ خوا ور واړولې "زويه څنګه کار؟"-

خاخان چې خپله سپينکۍ خولۍ پر سر کوله "مورې! د سنېماپهٔ مخ کې يو کبابي دی، دسيخانو کباب او شربت خرڅوي-

دی بهٔ ناست وي، زهٔ بهٔ چې فلم شروع وي، کباب او شربت دننه وروړم، پر خلکو بهٔ يې خرڅوم"-

بختيالی چې د دهٔ له لاسه ږمنځ رانيوله "زويه داسنېما يې بياڅهٔ بلاده؟"-

خاخان پر مخ غوړ لاس تېراوو "مورې! تا تر اوسه د سنېما نوم نهٔ دی اورېدلی؟"-

بختيالی د ولاړېدو پهٔ وخت "نهٔ زويه نن يې دا دی ستاپهٔ خولهٔ کې اورم"-

خاخان واړه، واړه له ځان سره خندل "مورې سنېماداسې ځای دی چې پهٔ سونو خلګ ورته راځي، ناست وي، ننداره يې کوي ، کله د ښځو رحسونه (رقصونه) کله جنګونه پکې کېږي"-

بختيالی چې پهٔ ګونجې تندي، تونده لهجه ورته وويل" نهٔ نهٔ زويه ،داسې ځای ته بهٔ نهٔ ورځې چې جنګونه پکې کېږي ،که

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې جنګونه په در کولای، له خپله کلي به په شپه نه راتلم ،ګوره ګوره چې ور نه شې"-
خاخان شونډان په غابنو کې نیولی وو چې وره خندا یې ښکاره نه شي "مورې په ماښه کوي، زه خپل شربت اوکباب پکي خرڅوم، دوی دې خپل اتڼونه او جنګونه سره کوي"-
بختیالۍ چې د ډمنځي غابنونه په یوه واره خلي پاکول "نه نه زویه د بل ګولۍ یا به لرګی درباندې ولګېږي"-
خاخان کټ کټ وخندل "مورې داحقیقت نه دی، دا د برق په زریعه پر دېوال عکسونه ښکاره کوي ، دا نور خلګ ورته ناست وي، ننداره یې کوي، تا تر اوسه اورېدلي دي چې د جنګ خلګ ننداره کوي یا شربت وکباب پکي خرڅوي، په جنګ کې خوخلګ ګوانښ کوي"-
بختیالۍ چې د حېرانتیا په حالت کې، د ډمنځي پر غابنو خپله ګوته تېروله "زه هم حېرانه شوم چې دا اوس څنګه خلګ دي چې د جنګ ننداره کوي،زما لېونی بیا د ګوانښ پر ځای شربت و کباب پکي خرڅوي-
سمه ده زویه، د شاه جي هم دغه صلاح ده، چې د ده کوم کار خوښ وو ، هغه دې کوي"-
دا خو هسي عذر وو ، حقیقت خو دا وو ، چې و ده ته د عکسونو جوړولو کار ډېر خوند ور کاوو-

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورغلی له هغهٔ مصور سره یې کار شروع کړو، چا چې به د نوي راغلي فلم د مشهور تیاد پاره ، غټ غټ عکسونه جوړول او په چوکونو به یې خړول-
له هغهٔ سره یې ډېر په مینه او خلوص دا کار کاوۀ- ښځي ډېره موده یې د استاد جوړ کړي عکسونه رنګول او ورل په چوکونو به یې خړول-
استاد یې په بدل کې یو د غرمي ډوډۍ، هر ماخیګر د جېب خرڅه ور کوله-
د هغه روپۍ خرڅولې نهٔ ،جمع کولې یې ، کاغذونه او قلمان یې پهٔ اخیستل-
ماښام چې بهٔ کور ته ورغلی، دی وو او عکسونه جوړول بهٔ وو- د مور بهٔ یې هر سهار دعوه وه "ټوله شپهٔ پر بتانو تېره کړې، اوس خونهٔ د دین شوې، نهٔ د دنیا ،نهٔ لمونځ کوې ،نهٔ اودس، نهٔ دې پهٔ دې دومره وخت کې دوې روپۍ کور ته راوړې-
دا ډول پهٔ دعوه او شنه زړهٔ درست کال تېر شو، نهٔ یې د مور خولهٔ سره ورتله ،نهٔ دهٔ دا کار پرېښوی-
یو ورځ یې مور مخه وکړه، شاه جي ته ورغله، ټوله کیسه یې ورته وکړه-
شاه جي پهٔ سپینکوټي دسمال سترګې پاکولې، مخ یې ور واړاوو
"بختیالی ! اوله ورځ مي درته وویل، هلک وخپل مخ ته پرېږده، کار مهٔ پهٔ لره، ستاخهٔ خیال دی ،خاخان بهٔ تاوانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درته راوړي، نهٔ بې راوړي، بې غمه شه ،خانان زهٔ د پر بنهٔ پېژنم"-

بختیالۍ چې شاه جي دسمال نغښتی، دې بې ولاس ته کتل" اوس خو درست کال وشو، نهٔ بې یوه روپۍ کورته راوړه او نهٔ بې غوږ له ګوته وروړې ده، د الله اکبر د پاره"-

شاه جي چې خپل نغښتی دسمال جېب ته کاوۀ" بختیالۍ دا لمونځ چې نهٔ کوي، پهٔ دې ملامت دی، دابهٔ ورته ووایم لمونځ بهٔ کوي، پر کار نهٔ شم ورته وئیلای، کار چې ددهٔ خوښه ده هغه کار دې کوي، چې روپۍ پکې تاوانه وي ،که هغه کوي چې روپۍ پکې ګټې"-

له کوره سم سره را ووتو ،چې راغلو خاخان ویده وو، مور له خوبهٔ را پورته کړو-

اتهٔ بجې کېدونکې وې ، چې دا ورځ د جولای د میاشتې دوویستمه وه-

چې دهٔ مخ ومینځلی، مور بې چای راوړلې، شاه جي او خاخان چای څښلې، شاه جي خاخان ته خبره وریاده کړه "خاخانه دا مور در څخه ګیله منه ده،ته ولي لمونځ نهٔ کوې ، تر غرمي ویده بې"؟-

خاخان چې سر کښته ځوړلی وو، را پورته بې کړو ،د شاه جي پهٔ لور بې ور کتل" له دې واره مي تهٔ او مورکۍ وبخښې بل وار بهٔ داسي نهٔ کوم"-

شاه جي ولاړ شو "زهٔ ځم، خو ته بهٔ قول راسره کوې"-

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاخان چې شاه جي ولاړ وو، په ناستې یې د شاه جي ومخ ته کتل"هو قول دی"-

په دې ورځ چې ورغلی، استاد ته یې وویل "د دې اوس راغلي قلم تول عکسونه زه جوړوم، ته هسې راته گوره"-

جامې یې بدلې کړې او رنګونه یې راواخیستو، د عکسونو په جوړولو یې شروع وکړه، استاد ناست وو، ورته کتل یې چې کوم ځای به یې ناخوښه شو، ده ته به یې اشاره وکړه، یا به یې په خپله قلم ورواخیستو-

داډول عکسونه تول مکمل شوو، چې کله وارد لیکلو شو، نو استاد قلم په لاس ور کړو-

ده ډېر په معصومانه انداز قلم او رنګ په لاس کې راواخیستو-

خاخان "استاد محترم! زه په خدای که خپل نوم ښه وئیلای شم"-

استادچې پر چوکۍ ناست وو، د ده پر مخ یې د رنګونو تکي لیدو.

ده په رنګېدلو لاسونو کې رنګ او قلم نیولي ،واړه واړه یې خندل.

خاخان"استاد محترم! ته یې پر کاغذ ولیکه ،زه یې هغه ډول درته لیکم "استاد یو گړی په سوچ کې ناست وو، په دواړو لاسونو کې یې کاغذ ور غړا وو بیا یې هغه کاغذ سره خور کړو ،یو څه یې پر ولیکل، و ده ته یې ور کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهٔ د استاد محترم لیکلي دومره ښاهسته ولیکل، چې او استاد محترم یې پهٔ چوکۍ کې ګوته پهٔ غاښ ورته ناست وو، چې کله کار خلاص شو.

استاد پوښتنه ځیني وکړه "تهٔ چې پهٔ الف،بې نهٔ پوهېږې بیادې دالیکل څهٔ ډول زده کړو؟".

خاخان چې د رنګ د ډبې سر بنداوهٔ" استاد محترم! دا زما له ډېره وخته شوق وو، هر ځای چې بهٔ ما ښاهسته لیکلي ولیدو، تر هغه بهٔ ما لیکل، نهٔ مي پرېښودل چې هغه لفظونه بهٔ مي هغه ډول لیکلي نهٔ وو.

دا لیکل خو مي له ډېره وخته زده وو، د عکسونو شوق هغه ورځ را پورته شوچې پر چوکونو مي غټ غټ لګېدلي عکسونه ولیدل.

ښځې ډېر وګرځېدم هغهٔ سړی نهٔ رامعلومیدو چې جوړوي یې څوک ؟.

یو ورځ خو لا دا سودا هم را ولوېده چې دا د چوک یو عکس پور ته کړه، کور ته یې یوسه، پردې بهٔ یې زده کړې چې پهٔ کومه ورځ مي ستا دوکان ولید، زړهٔ مي دومره ښهٔ شو ،لکه د دنیا ښې او ښادۍ چې ټولي پر ما راغلې وي".

له هغې ورځې استاد مطمئینه شو چې خاخان بهٔ پر دوکان ناست وو، دی بهٔ ښځمه ګرځېدو بل یې ډېروکي تنخوا هم ور ولګوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېخي ډېر وخت یې له استاده سره کار وکړی ، اخیر هغه ورځ هم راغله چې خاخان له استاد سره خفه شو ، سبب یې دا وو ، دی څو ورځې دوکان ته نۀ لاړو او له استاده یې اجازه هم نه وه اخیستې،نو استاد چې بۀ دوکان ته راغلی دوکان بۀ بند وو او کارونه بۀ ټول نیمګړي پراته وو ، ګراکانو بۀ پۀ قطار کې پۀ یوه خوله وویل چې کار کول مو پۀ وس نه دي پوره بیا دوکان بند کړی ،څۀ ته مو خلاص کړی۔

څو ورځې پس چې خانان راغلی، د دۀ او استاد خبره تر له واوښته ، خانان چې له دوکانه روان شو ، د خپل استاد پۀ ضد یې خپل رنګونه او قلمونه واخیستل پۀ شابۀ یې ګرځول، د دوکانونو بورډونه یې لیکل یابۀ د بسونو او لاریو پۀ اډو کې ګرځېدو ، پر بسونو او لاریو بۀ یې لیکل کول۔

پۀ هغه ورځ یې له دې کاره هم نفرت وشو، پۀ کومه ورځ چې یو ډرائیور یو څۀ لیکلي ورکړو ، دۀ د لارۍ پر شا ښاهسته ولیکل

.

دی لا ده لارۍ شاته ولاړ وو چې یو ځوان راغلو ، چې د دۀ لیکلي یې ولیدو ، پۀ کټ کټ یې وخندل۔

خاخان رنګونه او قلمونه پۀ لوته کې اچول، پوښتنه یې ځینې وکړه "ولي دې وخندل؟".

سړي چې دواړه لاس پر یوه او بل تشي نیولي وو "ولي تا چې لیکل خندا نۀ درتله؟".

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاخان د اخبار پۀ کاغذ له رنګه لاس پاکول "نۀ! زۀ خو هسې هغه ليکم چې څوک يې پر کاغذ را وليکي".
سړي د خندا اوښکې له سترګو پاکولې "دخدای بنده! دا واوره، تا څۀ ليکي دي؟
زارۍ مي ډيري ورته وکړې ، پلار يې راضي شو مور يې کونه ښوروينه .
او دغه رنګه ما ستا نوري ليکني هم ليدلې دي چې تا ډېري نا تراشي په کي کړي دي ،
ويشتلی مايې روغ بۀ نشې، که طبيبان د مور مېړونه کړې ميئنه"
پر يو ويګن مي وليدل چي تا ليکلي وو ، کېنچ رازق ماما ، او داسي نور هم ، هلکه چي په پوهېږې نو بيا يې ولي ليکې؟
هغه ځوان ځيني رخصت شو ،او دی ډېر خفه شو ، له ځانه سره يې کست وکړو تر څو چي ليکل زده نه کړم ،په والله که يو لفظ هم وليکم ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



9

دینک ته تړوله شپۀ خوب نۀ ورتلو، دایې غوښت چې ور شي، دوی ته د ملکداد د ناکراری خبر ور ورسوي، دخوب د تښتېدو سبب یې هم دا وو چې یوه شپۀ ورته درسته کال شوه، تړوله شپۀ یوې او بلې خواته اوښت او را اوښت.
سهارله چای ښنبلو سره سم، دینک له ښځې او زامنوسره دلورد کورپه بهانه د خدای پۀ اماني وکړه، روان شو.
ځرک ته چې ورسېدو، یوه لاری راغله ور وختو، له لاری څخه ماځیګر بس ته وختو. تړوله شپۀ یې لاره ووهله، سهار نژدې وو چې بس واوښت ډېر پکې مړۀاو ډېر ټپیان شوو.
دینک او څۀ نور خلګ یې د یې هوښی پۀ حالت کې هسپتال ته یوړل، ډېرې شپې یې پۀ هسپتال کې وشوې.
یو سهار ترسیم مسیح صفایي کوله، پۀ نري بانس پوري یې ترلی ګډر، د شپږو کتونو پۀ وارډ کې پر فرش وهلو، له هغۀ سري سره ږغېدو چې د تللو د ناروغانو د کټونو سپین څادرونه یې بدلول او هم یې د دینک خبري اورېدې، یوۀ بل سري ته یې ویل.
که څۀ هم ترسیم سم پۀ پښتو نۀ پوهېدو خو نمونه یې د دوی د ګاوندیانو اخیستو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترسیم چې د دوی کټ ته ورنږدې شو چې ترڅې خولۀ يې خلاصه کړه، له هغۀ سړي يې پوښتنه وکړه "داچاچا څۀوايي؟".
نااشناسړی چې له ناروغه سپين ږيري دينګ سره پر کټ ناست وو، يوه پښه يې لاندې ځړېده، هم يې ښوروله ،دی وايي "دلته زماخپلوان دي ،زۀ پۀ هغو پسې را رهي و م ، پۀ لارې داپښه را وشوه".
ترسيم چې د سپين ږيري مخته کتل
"اوس يې کور ور معلوم دی؟".
نااشناسړي چې هغه بله پښه هم له کټه کوزوله "نۀ دی وايي کور يې نۀ دی رامعلوم ، را وستي هم ما دي".
ترسيم چې د نااشناسړي له کټه لرې شوې څېلۍ ور نږدې کوله
"بيا يې څنګه کور نۀ دی ور معلوم؟".
نااشناسړي چې خپله څپلۍ پۀ پښه کوله
"دی وايي رامې وستو، يو سړي ته مې حواله کړو، زۀ لاړم".
ترسيم چې وار بۀ نه وو ،مخ بۀ يې د دروازې پۀ لور واړوو ، بېرته بۀ يې مخ دۀاو سپين ږيري ته ور واړوه
"څومره وخت بۀ يې کېږي؟".
نااشناسړي چې هم ترسيم ته کتل "دی وايي ښځې ډېر کلونه يې کېږي، هغه وخت خو يې هلکان ښځې ماشومان وو، اوس بۀ پۀ ږيره وي".
ترسيم چې سترګې پټې او رڼې کړې ، له جېبۀ يې يوه دانه سګرېټ را وکښو، بل يې کړو له يوه کشه وروسته
"هغه سړی در معلوم دی، وچاته چې تاحواله کړو؟".

(c) ketabton.com: The Digital Library



نااشناسړي چې سترګې یې د دهٔ د لاس پهٔ سګرېټ کې وې"هو
دی وایي شاه جي نومېدهٔ پر پلاني چوک یې دوکان وو".
ترسیم د دروازې پهٔ لوري کتل "دبختیالی زامن خاخان او
محیب".
نااشناسړي چې سترګې یې د ترسیم پهٔ خړو بوټونو کې وې دی
وایي
"هو".
دینک چې ترسیم ته مخ ور واړاوو"هو ! تر خولهٔ دي وګرځم
دغه دي، تهٔ یې پېژنې؟".
ترسیم چې ناکراره غوندي وو ،نااشناسړي داسي
محسوسوله، لکه له یو چا چې وېرېږي. مخ یې د دروازې له
لوري سړي ته واړاوو
"هو ! زهٔ یې پېژنم ، کور یې زموږ پهٔ کوڅه کې دی".
دینک چې د مسخرو پهٔ ډول واړه واړه خندل "کاکا بهٔ دې تر
ډېره جار شي" له ځان سره یې بیا پهٔ زوره وهم خندل "ډېره خو
نهٔ لرې. کاکا بهٔ دې تر برېتو جار شي. که دې را خبر کړو".
نااشناسړي ته د دینک مسخرې خوند ور نهٔ کړو. پهٔ زړهٔ کې
یې د ترسیم مسیح پر بوټونو او خیرنو جامو او ترلي سر
افسوس کاوهٔ . دی وایي "که دې را خبر کړو ډېر بهٔ ښهٔ وي، زهٔ
بهٔ دعا درته کوم".
ترسیم لاړو . د بختیالی دروازه یې وټکوله . هلکان یو هم
کور نهٔ وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بختیالۍ او زرینه هسپتال ته ورغلې ، له حال احواله پس چې بختیالۍ د ډاکټر دروازې ته ورغله، په دروازه کې د ناروغانو ګڼه ګونه وه، دې په دروازه کې ولاړ سړي ته وویل "له ډاکټرصاحبهٔ یوه پوښتنه کوم".

د دروازې سړی :"مورې ! ته به انتظار باسې، تر هغه چې دا ولاړ خلک ور شي بیابهٔ ته ورځې". تولو ولاړو خلکو وویل "یوار مورکۍ پرېږده چې ورشي، مور به بیا ور شو".

بختیالۍ : "ورونو کور مو ودان".

ډاکټر: "ها څه درباندې شوي؟".

بختیالۍ": ډاکټرصاحب ! هغه زموږ سړی چې په بس کې خوږ سوی وو، اوس شکر دی ډېر ښهٔ دی، که ستااجازه وي ، موږ بهٔ یې کورته بوزو، کور نزدې دی، که چېري په تکلیف شو درته رابهٔ یې ولو".

ډاکټرچې یو بل چاته نسخه لیکله، قلم یې ودراوو، بختیالۍ ته یې وکتل "بس هغه دوا ورکوی ،د نور څه ضرورت نشته".

بختیالۍ چې په راوتو وه "سمه ده دا دوا بهٔ ورته واخلو دینګ یې کورته راوستو.

غرمه محیب راغلی چې کاکایې په سترګو شو، سودا یې شوه، له موره یې پوښته وکړه "مورې! دا څوک دی او راغلی دی ؟".

بختیالۍ : "زویه ! دا هغه دینګ کاکا دی موږ چې یې دلته خنګه راوستو" محیب له کاکاسره ډېر په مینه روغبړ، حال احوال وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماښام چې خاخان راغلی د کاکا سر او لاس که څه پټی وو، هم یې وپېژندلی. له روغبړه پس یې د دهٔ مخ ته کتل ځینې ویې پوښتل.

"خیر کاکاداڅهٔ در شوي دي؟".

دینک چې دخپل یوه یوه زخم وپټی، ته کتل "زویه! دا خو داسې پهٔ لاره بس وواوښت".

خاخان چې د کاکا تر ځنګانهٔ بالښت لاندي کاوۀ" ښه نور کور و کلی ټول ښهٔ دي، څنګه دی زما کاکا؟".

دینک چې هغه بله روغه پښه غزوله "زویه! ګزاره کوي، پخوانو ښهٔ ویلي دي "د ظلم پای تمام دی" د هغه غریب خو دریم زوی وفات شو، نږور یې وهغه چرسک ته کښېنوله، اوس یې پهٔ کور کې تل جنګونه وي.

هغه ورځ ورسره کښېنستم، د ېر شین زړی او ګورم جن وو.

داسې پهٔ ګېڼهٔ ګېڼهٔ کې یې تاسو یاد کړاست، سرېبه دلته مې پهٔ کور کې دا شین زړهٔ دی، هلته مې له هغو تللو وېره شي، داسې نهٔ وي یو ورځ راشي یو پکې را وغزوي ،تمامه شپهٔ پهٔ ولاړې تېره کړم".

ما ور غبرګه کړه چې " تااول ولي سوچ نهٔ کاوهٔ".دهٔ پهٔ ژړغوني ږغ وویل "ما دي خدای له زویه خلاص کړي ، ما دانهٔ دي ورته ویلي چې تهٔ دا سړی مړ که دا مې خود ورته ویلي وو چې تنګوه یې ،ګوندي بار شي دامځکه راسره بدله یا رابانديخرڅه کړي.

دهٔ ظالم دا وو چې مړیې کړ".

(c) ketabton.com: The Digital Library



مابې خبره پرې کړه " تهٔ خو له هغه نه وشرمېدې، پر هغه ظلم برسېره دې بل ور باندې کاوه، ښځه دې هم وهغه قاتل ته کښېنوله".

دهٔ ویل: "سړیه له ماخو یې ورخونه یوړو، ما دا هڅه ځکه وکړه چې دا ښځه ودې چرسک ته کښېنوم، ګوندې دا دښمني پوري ختمه شي، هغه د خدای داسې نهٔ وه خوښه".

خاخان چې وکاکا ته پر غوړېدلي دسترخوان دشیدو وره ډوډۍ کښېښووه.

"ښهٔ کاکا تهٔ چې له دې ځایه ورغلې، دی دې ولیدو. څهٔ یې ویل؟".

دینک چې لاس یې پهٔ کاسه کې وو "زهٔ چې کور ته ورسېدم، پهٔ کور کې خبر شوم چې بختیالی او زامن د شپې تښتېدلي دي. دهٔ ته ورغلم له روغبړه پس، یې ولمر ته پر ناست کالي بالښت ته ښنګ وهلي وو، سترګې یې کښته اچولې وې".

دینک ما ورته وویل.

"هلکه ملکداده! تا دا ښځه او ماشومان څهٔ کول چې تنګول دې چې زهٔ راغلی وای، پهٔ سوکه بهٔ مې در رضا کړې وه".

ملکداد چې سر راپورته کړو، سترګې یې مړې را واړولې "سړیه ښځه نهٔ ده بلاده بلا، زهٔ خو یې تېر یستم، دوې ورځې مهلت یې راڅخه واخیستو"......................

دینک زما سترګې د دهٔ پهٔ سپېره مخ کې وې "ته دا ارام ولې ناست یې، خو یو خوا ته بهٔ پسې تلې؟".

ملکداد چې واړه وخندل "چیرې بهٔ لاړه شي، د یوچا کلا ته بهٔ ورغلې وي. حال بهٔ یې راشي هرچا ته چې ورشي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا څهٔ خیال دی هغه بهٔ زما له خبرې واورې" زهٔ خاموشه وم.
خاخان چې جوړه ګوله غاب ته وړله "بیا خو ډېر ښهٔ دی چې پر تابې شک نهٔ دی راغلی".
دینک چې د اوبو ګلاس یې پهٔ لاس کې وو" نهٔ مڼا(مرا) موږ خو هم داسې چل ورسره وکړو چې ملکداد څه د ملکداد پلار والله که پهٔ پوهـ شي.
هسې دا روپۍ داسې شی دي چې پر خره یې بار کړې، خلګ خیرالله خان ورته وایې ،ګني دا د ملکداد غوندې خلګو بهٔ پهٔ ماپسې کاغذونه ټولول".
دسترخوان ټول شوی وو، شنې چای راغلې څهٔ، بلکې پرخلاصېدو وې.
خاخان چې د شینو چای تشه پیاله ښووه "کاکا بس ناوخته دی، زیاته ویدېږو ،که ډېر پهٔ تکلیف نهٔ یې، ستاپهٔ ښاهسته دږغ کې یو څو د پردېسۍ غاړې راته وکړه، والله که مې له ډېره وخته غاړې اورېدلي وي".
بختیالۍ چې پر لمانځهٔ ولاړه وه، سلام یې پهٔ وګرځاوو، ور دږغ یې کړو
"خاخانه! شرم وکړه کاکا ناروغه دی تهٔ غاړې پهٔ کوې".
دینک چې سر پر جګ بالښت سماوۀ، پهٔ برامده کې یې کټل، د دوو خونو څنګ پر څنګ، پهٔ خړ رنګ رنګېدلې دروازې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر يو او بل ځنګ يې يوه يوه کړکۍ پۀ هغه ځړ رنګ رنګېدلې هم ليدې.

چې وده ته مخامخ، يوه د پخلنځي وره دروازه هم پۀ هغه رنګ ښکارېده "نۀ نۀ بختيالی! هلکان نۀ دي ملامت، پردېسي سوځلي دي، يو څوغاړې بۀ ورته وکړم.

خاخانه زويه غوږ شه.

پردېسی څومره ازاد کړې
ما زړل چې بۀ چا ياد کې
پردېسي د غروسرونه
پرغروچا کړي خوبونه
پردېسي د اُور لـه زاتـه
سرت مه نيم نه سوی راپاتـه
پردېسي ده تـور دودونه
اورهندوان سوځي ليانجونه

دينک له بالښته سر يې اختياره را پورته کړو

"وی بختيالی! اوس مې رايات شو زۀ چې راتلم، ښځې دلورد پاره نخښنه(تحفه) راکړه، يو څو د دې د لاس بنګړي يې راکړو، ويل يې "ما بۀ پر ياتوي" يوه ګوتې، يو څۀ شيان يې راکړو.ويل يې "ما بۀ پر ياتوي" يوه ګوتې، يو څۀ شيان يې راکړو ويل يې "ما بۀ پۀ هغه بس کې پاته شوي وي".

نور هم پکې ينبي وو، خود بۀ پۀ هغه بس کې پاته شوي وي.

خاخان چې يوه پينه پر بله اړولې وه، بالښت ته پروت وو، را پورته شو "کاکا! نخښنه دي پۀ اور پسې شي چې تۀ خدای ژوندی پاته کړی يې."

کاکا! انۀ دي ده خوښه ،شپۀ ډېره تېره ده، چې ويده شوو."

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار لا دوی چای څښلي، شاه جي راغلی، له حال احواله پس يې خاخان ته مخ ور واړاوو "د شپې ناوخته کورته راغلم، جبينې راته وويل: د اسې پېښه شوې وه".

خاخان چې د کاکا د سر او لاس پټی ته کتل "هو شاه صاحب" ټوله کېسه يې ورته وکړه.

دا ډول د کوڅې خلگ وو ،شناخته يو يو راتلو، د خاخان ټوله ورځ پر کور تېره شوه.

له دې ورځې پس خاخان او وروړ هر سهار پهٔ خپل خپل کار پسې تلو، تر هغې ورځې چې کاکا روغ رمټ شوو.

ټولې پټی يې خلاصې کړې، پهٔ دې ماخوستن يې، وخپلو جوړو زخمونو ته کتل، خاخان او بختیالی ته يې وويل" که ستاسو خوښه وي، زهٔ بهٔ سبا که خير ووکور ته لاړ شم، د دوو شپو پهٔ نيت له کوره راووتم، درسته مېاشت مې وشوه، د هغو بهٔ پهٔ ما کښ چپ وي".

خاخان چې هم د کاکا د جوړو زخمونو و ټپو ته کتل چې سپين ښکارېدو "هو خود کاکا کښ ځهٔ پهٔ ولاړې بهٔ گرځې، مځکه بهٔ د ناستې ځای نهٔ ور کوي".

شپهٔ تېره شوه ،سهار خاخان کاکا د بس اډې ته، پهٔ پښو سوکه ،سوکه روان کړو، تر هغه کاکا پهٔ ښار کې يوې او بلې خوا ته سره کتل، چې اډې ته ورسېدو.

پهٔ اډه کې يې کاکا ته د کور د پاره ځهٔ وچه مېوه او ځهٔ نور شيان ور واخيستو، له کاکا سره يې خدای پهٔ اماني وکړو، پهٔ بس کې يې سپور کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


کاکا چې کور ته ورغلی کلیوال پهٔ خبر شو، یو یو بې
پوښتنې ته راتلو، چې ملکداد هم پکښې راغلی.
له روغبړه ، حال احواله وروسته.
ملکداد چې د دینک پهٔ کور کې بې بالښت ته ځنګ وهلی وو.
پهٔ خونه کې بې شاه او خوا کتل، چې پهٔ خونه کې بې پهٔ دېوال
کې ټک وهلي مېخونه لیدو.
پر هغو مېخونو څلور دانې غټې ، غټې غابونه پراته وو، بلې
خواته یو نغری چې ایرې بې ښې خواپاکې ختلې وې . جار له
بوټو ډک وو.
د ډک جار له یوې او بلې خوا بې پر لوړه دوه صندوخان، یوه
هغه کراسته ،دوه بالښته چې دوی پر ناست وو.
خلاصه دروازه ته مخامخ، چې دباندي بې پرغولي یوه چرګه
هم لیده "دینکه! څهٔ شوې دخدای بنده، خو ټول کور دې پهٔ
ځان حېران کړی وو".
دینک : "زهٔ چې له کوره ووتم، څرک ته ورغلم، یوه لاری
راغله، لاس مې ورکړو ،لاری ته ور وختم.
د لاری ډرائیور ښهٔ پهٔ مېنه روغبړ را سره وکړو، د کلي د
سړي، سړي حال احوال بې وکړی.
زهٔ حېران وم چې دا څوک دی چې د کلي واړه او زاړه پهٔ نامه
پېژني.
اخیر مې پهٔ مړه خولهٔ پوښتنه ځیني وکړه، څوانه تهٔ څوک بې او
کور دې چیرې دی؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی یو څهٔ وخت خاموشه وو بیا یې سرې غتې سترګې په قهر را واړولې ویې خندل.

"ستاسو په کلي کې دی".

دینګ ماپې پر استېرینګ نیولو لاسو ته کتل

" څنګه زموږ په کلي کې ، زهٔ دې نهٔ پېژنم"؟.

ډرائیور د بیا هغه ډول سرې سترګې را واړولې

"دی نهٔ ، یو وخت وو".

دینګ"ما د لارې د دروازې تر خلاص شیشه نسوار تو کړو، خولهٔ مې په خپل ځادر پاکوله "هلکه د رمضان زوی خو نهٔ یې؟".

د دهٔ سترګې پهٔ ما کې وې، څرک ته یې نهٔ کتل

ډرائیور"هو دینګ کاکا".

دینګ ما چې د هغه بل ملګري له لاسه خوږه رانیوه"هلکه خو ځوان شوی یې، هغه مور او نور وروڼه دې څنګه دي؟

هغه دوه بهٔ هم ځوانان وي".

ډرائیورچې سګرېټ بل کړی، تیلی یې وغورځوله"هو کاکا هغه بل هم ځوان دی"

بیا زهٔ پهٔ ځان نهٔ یم پوهېدلی ، یو څو ورځې پس چې پر حال راغلم. پهٔ هسپتال کې پروت وم، ډېرې شپې مې پهٔ هسپتال کې وشوې".

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 10

ماخوستن دسترخوان غوړېدلی وو، و ډوډۍ ته بختیالۍ، خاخان او محیب اوس د زرینې په انتظار وو چې غابونه راوړي، د محیب تعلیم مکمل وو.

خاخان : "وروره! موږ د خدای شکر نهٔ شو ادا کولای چې په موږ کې یې هم داسې سړی پیدا کړو.

اوس بهٔ که خیر وو، یوه ښهٔ نوکري ځان ته پیدا کوې.

چې تهٔ هم پهٔ عزت یې او د خلګو خدمت هم پکې کوې.

دروازه وټکېده، محیب ورغلی، له محیب سره سم شاه جي دننه راغلی.

لاس یې ومینځل، له دوی سره پر ډوډۍ کښېنستو.

د ډوډۍ له خوړلو وروسته، شاه جي د خپل ګونجې، ګونجې لاس ګوته پهٔ غوږ کې ښورولهٔ.

"بختیالۍ تهٔ بهٔ وایې شاه جي موږ پهٔ سوالو ډوډۍ ته نهٔ شو راوستای، نن پهٔ خپله راغلی، یو څهٔ بهٔ ضرور وي.

خبره داسې ده لورې! زما یوه میاشت کېږي چې ناروغه یم، تاسو ټول خبر یاست او بلکه د مرګ معلومه هم نه ده، چې روغ مرې، که ناروغه، خبره مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کوله چې ستاسو له ما سره روپۍ دي، دا به سبا خاخان را ولیږي ،زه به یې ورکړم.

بختیالۍ چې وزرینې ته په لاس د چای اشاره کوله -

شاه صاحب! زموږ له تاسره روپۍ څه غواړي. لس پنځلس زره مو در کړې دي، درې ګونه دې راکړې دي.

شاه جي چې د زرینې په لاس کې پتناسه ته په هغو سترګو کتل، چې تک سپین، ګڼ بانه یې په تکو سپینو چشمو کې، له لرې ښکارېدو "نه ستاسو له ما سره ډېرې روپۍ دي، یو خو چې ته راغلې روپۍ دې راکړې، یو څه په هغه وخت کې د کوڅې خلګو راکړې ستاسو د پاره، شل زره ما له ځانه کړې.

په بینک کې مې کنبېښودې ،په ګټه چې د کال پر زر یوه روپۍ راکوي، هم ډېره ګټه به یې کړې وي.

اوولس ،اتلس کاله تېر شوي دي.

بل هغه دوکاندار چې تاسو روپۍ نه اخیستې، وماته یې راکړې ، ما تاسو له رکشه په رانیوه ،پاته روپۍ هم رکشې مزدوري وکړه، ادا یې کړې ،وتاسو ته هم ما د خپلې رکشې ګټه درکوله.

دوی تول خاموشه وو.

بختیالۍ د چای پیاله ور ډکوله

"شاه صاحب! دا دې ښه کار نه دی کړی.

شاه جي چې په رېږدېدلي لاس پیاله ور پورته کوله "هو زه منم چې ښه کار مې نه دی کړی، ستا په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـرې د بـره خوابـده شـوه چـې مـا روپـې خینـې اخیسـتې دي.

بختیـالی چـې سـترګې د دهٔ پـهٔ رېړدېـدلي لاس کـې وې "هو".

شـاه جـي چـې پـهٔ رېړدېـدلي لاس کـې یـې د چـای نیمـه پیاله پاته وه

"لـورې! څـهٔ وکـړو، مـړهٔ هـم سـتا ډول انسـانان یـو، زړونـه مـو د غوښـې دي، نـهٔ ده ډبـرو، مـوږ تـهٔ او سـتا ماشـومان لیـدل، بـس نـورې خبـرې پرېـږده، سـهار خاخـان راولېـږه، زهٔ اوس لاړم د خدای پهٔ امان".

یـو لاس یـې پـر ګونـډه ونیـوو، هغـه بـل پـر مځکـه، ډېـر پـهٔ زحمت ولاړ شو.

محیب ګوتونه ور سم کړو، تر کوره ور سره لاړ.

سـهار چـې خاخـان تلـو بختیـالی سـوال ورتـه وکـړو چـې "رکشه کور ته مهٔ راوله، دورې یې پر یو چا خرڅه کړه.

زمـا لـه دې رکشـې کرکـه کېـږي چـې ستاسـو پـهٔ لاس داسي نهٔ وي یو څوک پهٔ ووهی".

خاخـان چـې تـر دروازه وتـو، مـخ یـې پـر شـا را واړاوو "سمه ده مورې".

خاخـان ورغلـی، شـاه جـي بېنـک تـه بـرتلی، دو مـره ډېـرې روپـې یـې پـهٔ لاس ورکـړې چـې خاخـان ببخـې ورتـه حېران وو. شاه جي ته یې د مور کیسه هم وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه جي د بېنک تر مخه له لاسه لوېدلی قلم را پورته کاوۀ "سمه ده خاخانه ! یو څوک بۀ پیدا کړو ، رکشه بۀ پرې خرڅه کړو.
تۀ دا روپۍ کور ته یوسه، سهار تۀ او محیب دواړه راشئ، یو کاروبار بۀ پۀ صلاح شروع کړو".
خاخان روپۍ راوړې، ټولې د سلو سلو نوټونه وو.
ټوله کورنۍ ودې دومره ډېرو روپو ته حېرانه وه.
سهار خاخان او محیب دواړه ورغلو، شاه جي پر چوکۍ ناست وو.
له دخله څخه یې یو سړي ته بقایه ورکړه "خاخانه ! تۀ او محیب راغلاست، اوس که ستاسو خوښه وي، یو د کتابونو دوکان بۀ جوړ کړو ، د نجونو د سکول څنګ ته، یو خو یې کار ښۀ صفا دی بل ښۀ مزدوري پکښې ده، تر هغو چې یو نوکري پیدا کوو".
خاخان محیب چې ودۀ ته متوجه وو "سمه ده".
د کتابو نو دوکان یې جوړ کړو ، پر دوکان دومره رش وو ، چې ښېخې بۀ یو ګهنټه دواړه نۀ پۀ رسېدو ، روپۍ ورځ تر هغه بله ډېرېدې.
یو ورځ شاه جي راغلی چې "یوه نوکري مې پیدا کړې ده، خو روپۍ غواړي ، محیب چې شاه صاحب ته د اوبو ګلاس نیولی وو "څنګه نوکري ده او روپۍ څنګه او څۀ ته غواړي ؟".
شاه جي چې د اوبو تش ګلاس بېرته ور کاوۀ (ډي ډي .اي .او) "محیبه ! نن سبا یې روپیو کار هم نۀ کیږي، دا لا اوس هم له موږ سره ښۀ کوي، د محمدعلی (د شاه جي زوی) پۀ خاطر، هغه افیسر د محمدعلي ډېر نژدې ملګری دی".
محیب چې ګلاس پر ځای ښووی "دا خو ډېره ښۀ نوکري ده، زما خوښه هم ده، د تعلیم شعبه ده، زۀ بۀ له مور سره حال وکړم".

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماښام يې مور ته د نوکرۍ کيسه وکړه.
بختيالۍ چې سترګې يې د خوشالۍ له اوښکو ډکې شوې "زويه! نوکري خړد وکړه. کار به دي څۀ کار وي او بل که بيا کلي له بدلېدای شي".
محيب: "مورې موږ کلی څۀ کوو؟".
بختيالۍ "زۀ پۀ تاسو د دې خلګو خدمت نۀ کوم".
محيب چې سترګې يې د مور پۀ سترګو کې وې "ولې موره! دې خلګو له زموږ سره څومره ښۀ کړي دي، پۀ کار دي موږ د دې خلګو خدمتونه وکړو او موږ خدای تر دې ځايه را ورسولو، دې خلګو".
بختيالۍ چې د پړوني پۀ څاک خپلې ډکې سترګې پاکولې "ځکه خو يې خدمت نۀ پۀ در کوم چې داخلګ پۀ انسانيت خبر دي، له انسانه سره مينه لري ، زۀ پۀ تاسو د هغو خدمت کوم چې شکلونه يې د انسانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي او ذهنونــه د حيوانــانو، ځکــه خــو زۀ تاســو خپلوانــو او کلي ته بيايم.
دا پـۀ منم چې داسې انسـانان هـم شته چې د بـدو بـدل پـۀ ښۀ اخلي.
زويـه !تـۀ خبـر يـې چې کلـه کلـه زړۀ را تـول کـړم، ووايـم، چــې لاس پــور تــه کــړه، د زړۀ لــه اخلاصــه د دوی د پــلار وقاتل ته دعاوکړه چې سړيه دواړې دې سمې شه".
محيب چې د مـور پـۀ خـوا پـۀ ګـونجې تنـدي ور وکتـل .پـۀ تونـده لهجـه يـې وويـل "تـۀ بـۀ انسـانه نـۀ يـې يـا بـۀ دې پـۀ سينه کې زړۀ نۀوي، چې داسې کوې.
دا مـې پـۀ خپـل ژونـد کـې اول ځـل دی چې يـو څـوک وخپـل دوښـمن تــه دعاګــانې کــوي ،تــۀ لېــونی يــې، ســتا دمــاغ کــار پرېښــی دی، هغــۀ زمــا پــلار وژلــی دی، مــوږ يــې د بــل ديــار کــړي يــو، وروړ مــو د بــل پــه خــاورو کې ښــخ شــو، پــر مخ لاګوره نور څۀ را سره کيږي".
بختيــالی چــې ددۀ پــۀ خــوا ســترګې ور واړولــې، لــه ژړغوني ږغ سره ،سره و مسېده هم.
"زويــه ! کــه د دې ســړي ظلــم نــۀ وای، نــن بــۀ تــۀ داســې نــه ږغېدې
تـۀ چې لـه هغـه ځايـه نـۀ وای راوتلی، نـن بـۀ سـتا هـم لکـه د هغـه کلي خلـګ، پـۀ ډېـره کـې بـۀ دې نسـوار پراتـه وو يـا بـۀ دې لـه خـولې سـره څـادر نيـولی، ږغېـدې بـۀ، يـا بـۀ داسـې وې ، لکـه زۀ چـې داسـې مـې ګڼلـې وه، بـې قريبـانو ژونـد

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـهٔ کېـږي او بـل بـهٔ دي داسـې محسوسـوله لکـه زه چې یـو پښتانهٔ مسلمانان دي.

پـهٔ دې بـهٔ نـهٔ وې خبـر، چـې دا هـر څـهٔ اخیـر راځـي و انسـانیت تـه درېـږي، دا ټـول د هغـه سـړي د ظلـم برکـت دی".

دوی ټولـه تـر هغـه خاموشـه وو چـې ویدېـدل، سـهار شـاه جي ته ورغلی، چې مور مې داسې وای.

شـاه جـي چـې د دهٔ پـهٔ لـور پـهٔ حېرانـي سـره کتـل "هـو نـوکري خـود بـدلېږي، هـر وخـت چـې دي زړهٔ وغـواړي بدلېږي".

شـاه جـي یـې کاغذونـه او روپـی خپـل زوی محمـد علی تـه ورکـړې، هغـهٔ تـه یـې وویـل چـې "لـه اولـه دا کوشش وکـړه، چـې اړه یـې هغـې ضـلعې تـه وشـي، چـې د دوی کلـی پکښې راځي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 11

د محیب اخیر هم، اربر هغې ضلعې ته وشو، پهٔ کومه کې چې د دوی کلی وو.

ماخوستن له ډوډۍ وروسته، بختیالی، خاخان او محیب ټول ناست وو، محیب ډېر خوشاله وو "مورې! اوس خو بهٔ که خدای کول، پهٔ خپل کلي کې سکول جوړوم. که بله هره لاره راودرېده، پهٔ خپلو روپو بې جوړوم، هم بې چلوم.

تهٔ هسې دعاګانې راته کوه".

زرينې د محيب جوړې او نور د ضروت شيان، يو يو داسې پهٔ مات زړهٔ راوړلو، لکه محيب چې د کلونو پهٔ مسافرۍ ځي.

مور يې دعاګانې کولې

"زويه! خدای دې پر سر ودرېږه، نور مې څهٔ وس درسره نشي"

،زويه! که د هغو مظلومو ښځو او ماشومانو غم نهٔ وای راسره، پهٔ خدای که يا تاسو له دې کوره وتلي وای او يا ما پهٔ ټول عمر د خپلوانو او کلي نوم پهٔ خولهٔ اخيستی وای.

زويه! چې کلي ته ورشې، څومره کوشش بهٔ کوې، چې څوک دې ونهٔ پېژني، يو دينک کاکا دې پېژني، هغه خو پوه کړه".

(c) ketabton.com: The Digital Library



محیب چې د مور له سره لوېدلي پرونې ته کتل چې پر اوږو يې پروت وو "سمه ده مورې! تهٔ بې غمه شه" دوی ټول بیا پهٔ خواږه خوب ویده شوو، مور یې تر سهاره پهٔ سوچونو کې ورکه وه "داسې نهٔ وي هلته يې څوک و پېژني، د هغې خوا بهٔ يې کړي، تر تا بهٔ يې نهٔ راپرېږدي، نه ،نه محیب زوی خو تعلیم یافته دی، پهٔ ښار کې اوسېدلی دی، چیرې خطا وزي".

سهار د وخته يې مور چای راوړې، له چای څښلو وروسته يې بستره او بکس را واخیستو.

مور او زرینه هم تر دروازې ورسره راغلې، دی او خاخان پهٔ رکشه کې کښېنستو، د اډې پهٔ لور روان شو.

مور يې پهٔ دروازه کې ولاړه وه، دعاګانې يې کولې "خدایه! تهٔ يې پر سر ودرېږې، تهٔ يې کامیابهٔ کړې، خدایه! تهٔ خو د زړنو مالک يې، د پټو زړونو له حاله خبر يې، تهٔ يې کامیابهٔ کړې، ناکامهٔ يې بېرته کور ته مهٔ راولې، وتاتهٔ بهٔ زاری کوم ،نور خو مې يو وس هم نهٔ ورسېږي".

پهٔ اډه کې يې محیب پهٔ بس کې پر چوکۍ کښېناوهٔ، خاخان ورته ولاړ وو.

"وروره! څو مره پام بهٔ کوې. اول خو کلي له بې مقصده مهٔ څه. داسې نهٔ وي دښمن دي وپېژني ،وار بهٔ له مخه کړي".

محیب چې مخ بې د خاخان پهٔ خوا وو، يو لاس بې د مخ پر چوکۍ ايښی وو "نه وروره بې غمه شه، که خدای کول ورور بهٔ ناکامه نهٔ درته راځي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ سوکه، سوکه روان بس کې خاخان را کوز شو، محیب له کوره پهٔ اول سفر روان شو.
محیب له هغهٔ، پر خنګ ناست یوه مسافره سره ګپه شروع کړه "د کوم ځای یې، څوک یې او څه کار کوې؟".
هغه چې ځان ور وپېژندلی، سړی که یې څه هم خپل قریب نهٔ وو، د کلي یې وو.
پهٔ خبرو ، خبرو کې یې د سکول پوښتنه ځینې وکړه "ستاسو پهٔ کلي کې د هلکانو یا نجونو سکول شته؟".
کلیوال چې د مخ پر چوکۍ یې سر ینبی وو، را پورته یې کړو "نهٔ".
محیب چې د خپل کلیوال ژړو سترګو ته او نرۍ څو تاره ږیره ته کتل "که چیرې داسې سړی پیدا شي، سکول در کوې بیا یې تاسو کوئ یا یې پرېږدئ"؟.
کلیوال چې یې وڅهره ته کتل، پهٔ ذهن کې یې دا وو چې رنګ او جامه یې د پښتانهٔ نهٔ ده، پښتو څنګه داسې صفا وایي.
یو څه وار وروسته یې داسې وویل "دا خو د مشرانو کار دی".
د محیب نظر هغه ماشوم ته واوښت چې د مخ پهٔ چوکۍ کې مور را پورته کړی، څهره یې د مور تر اوږه لوړه ښکاره وه چې له ژړا سره یې هغه دوه اوس راوتي واړه غاښونه هم ښکارېدو.
"خیر ستا نوم او کلی. زهٔ له ځان سره لیکم. که چیرې یو موقع پهٔ لاس راغله، زهٔ درځم، سکول که مو نهٔ کاوهٔ، ښهٔ د کورتو دوډۍ خو بهٔ په راو خورې".

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلیوال چې دا وخت د دواړو سترګې پۀ یو بل کې وې "خدای دې راولـه" هغـه ښـارګوټي را ورسېدو، پۀ کوم کې چې د دۀ اړدر شوی وو.

شپه یې پۀ هوټل کې وکړه، سهار دوتر ته ورغلی، خپل دوتر یې سمبال کړو.

دوې میاشتې یې ښه ډیوټي ورکړه، اوس یې کور ته د تلو اراده کړې وه چې خپل افیسر ته ورغلی د رخصتۍ د پاره.

هغۀ چې یې درخواست وکوت.

افیسر چې قلم یې لوړ د دۀ پر درخواست کېښېښوی "محیبه! که ناراضه کېږې نۀ، یو څو ورځې پاتـه شـه، یـو څو تجرباتي سکولونه راغلي دي، دا به پۀ علاقه کې خلاص کړو بیا به ولاړ شې".

محیب چې سترګې یې پۀ خپل درخواست کې وې "سمه ده سر! یو سکول خو وماته معلوم دی، هغه ورځ چې زۀ راتلم یو سړي دا ایډرس راکړی، زموږ سکول ضرورت دی".

افیسر چې کاغذ ور پورته کاؤ، پۀ چوکۍ کې یې ځان ایله کړو. "محیبـه! دا خو د نجونو سکولونه دي. دلتـه خلګ د هلکـانو سکولونه، نۀ پرېږدي، تۀ د نجونو سکول پکې خلاصه وې".

محیب چې د افیسر د دوتر هر څه تر نظر یستلی وو، د دروازې کرپ شو، دۀ د دروازې پۀ لور وکتل، بېرته یې مخ را واړاوو.

"سر! زۀ د داسې خلګو پۀ مزاج ډېر ښۀ پوهېږم، زۀ به یې ډېر پۀ اساني سره راضي کړم.

خو یوه خبره ده، ما چې څۀ ډول چلاوۀ، ستا بۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library


اعتراض نهٔ وي او انشاءالله له ما پهٔ يوه اوونۍ کې سکول خلاص و غواړه".

افيسر چې پهٔ زړهٔ کې ډېر خوشاله شو، مخ یې نیم اړولی وو، پهٔ کږو سترګو یې ورکتل "بنځینه استاده له کومه کوې".

محيب چې بېرته خپل درخواست پهٔ لاس کې را اخيستو، صاحبه ! تهٔ یې غمه شه".

افیسر ډېر خوشاله شو چې دا د کار سرې پهٔ لاس راغلو چې پهٔ لسو سکولونو کې یو خلاص کړي هم د زوی زېږی دی.

محیب پهٔ سهار د دوتر موټر روان کړو، لهٔ ډرائیور سره کښېنستو، پهٔ پوښتنه، پوښتنه خپل کلي ته ورسېدو.

منو(محمد نور)یې پیدا کړو، هغه کور ته بوتلو او بهٔ، چای یې ورته راوړې.

د کلي خلک یې را وغوښتو، ټول راغلو، د لرګيو پهٔ ساله (جونګړه )کې کالی هوار وو، چارچېره بالښتونه پراتهٔ وو، ټول و محیب ته حېران او عاجزه غوندي ناست وو.

محیب ولاړ شو،

بسم الله الرحمان الرحيم

"قدرمنو ! مولوي صاحب او ټولو مشرانو ستاسو پهٔ اجازه، غواړم یو ځوخبرې وکړم، تاسو بهٔ ضرور دا محسوسه وئ چې داسړی بهٔ د څه د پاره راغلی وي.

قدرمنو ! زهٔ دلته د خپلو ګټو د پاره نهٔ یم راغلی، زهٔ دلته د دې پاره راغلی یم، غواړم چې وتاسو ته ګټه دررسوم، له چا؟ هغه هم له حکومته .

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت هم پر کور ناستو ته روپۍ نهٔ ورکوي، داسې هم نهٔ ده، چې زموږ پهٔ بیت المال کې حق نشته.
شته که چیري خپل حق، له بیت الماله راباسې، نو یو ذریعه بهٔ ورته جوړوې.
که چیري تهٔ ذریعه نهٔ کړې ورته جوړه، نو پر بیت المال داسې خلګ نهٔ دي ناست چې راشي ستاسو حقوق کور ته درته راوړي.
زهٔ چې دلته راغلی یم، ځان ستاسو خیرخوا ګڼم، دا یو ذریعه مې پهٔ لاس کې ده، لکه د نجونو سکولونه.زهٔ غواړم چې پهٔ دې ذریعه وتاسو ته خپل حقوق در ورسېږي".
ملکداد چې د نسوارو د ډبې پهٔ هنداره کې خپل مخ ته کتو، سر یې را پورته کړو.
"سړیه ! پر کومه لاره چې راغلی یې، پر هغه بېرته لاړ شه، موږ تعلیم نهٔ کوو".
مولوي صاحب: "موږ دي پر پیري شک لرو، تهٔ مریدان نیسې.
موږ پهٔ هلکانو تعلیم نهٔ کوو، تهٔ یې پهٔ نجونو کوې".
محیب چې د صدرۍ له جېبه دسمال را کښنو "مولوي صاحب! دا مقصد مې نهٔ دی چې تاسو پهٔ نجونو تعلیم وکړی -
مقصد مې دا دی چې عزیزان مې یاست، دا ښهٔ مې درسي، یوائې یو ځای مځکه ورکړی، نوم بهٔ یې د سکول وي، تنخوا بهٔ در راځي، نیمه بهٔ تهٔ اخلې، نیمه بهٔ ملک صاحب.
یو ښهٔ بیلډنګ بهٔ در جوړ کړم، په هغه کې بهٔ څوک واړه وي نور افیسران راځي نهٔ، که چیري راتلو هم زهٔ بهٔ ورسره یم".
مولوي صاحب ملکداد ته مخ ور واړاوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"خبره یې ډېره بې ځایه نه ده، خوار زموږ د پاره وای، د حکومت روپۍ دي پر موږ یې لوربږي".
محیب له مخ خولې پاکې کړې وې، بېرته یې دسمال جېب ته کړو.
"هو مولوي صاحب! خبره ده هم داسې، اوس خوسکول کچه دی، تنخوا یې دوه زره ده چې کله پوخ شو لس، پنځلس زره به یې تنخوا وي".
مولوي صاحب په خلګو کې شاوخوا کتل.
"ښنګه ملکداده! د لېوه له خولې ښنګري هم ښه دي".
محیب چې له جېبه کاغذونه را وکښو.
"مولوي صاحب! ډېر خوشاله شوم چې ستا غوندي عالم سره مې ولیدل.
مولوي صاحب! دوه کاره لا پاته دي، یو به پر دې کاغذ ستا دستخط او بل د دې ناستو خلګو ګوتې چې له ننه څخه ستاسو تنخوا شروع شي او بل یو داسې ځای را وتاکی چې زه بیلډنګ پر جوړ کړم یا یو ورځ افیسر را سره وي و ر یې ولم".
دوی پر هغه کاغذه ګوتې لګولې، پر ځای سره ږغېدو، اخیر یې پر دې فیصله کړه.
ملکداد چې "د هغه ورک شوو ځای ور ښکاره کړی، که چیري حکومت دعوه کوله هم په دوی به یې وي".
محیب چې د مولوي صاحب له لاسه کاغذونه ورنیوو "سمه ده، هر ځای چې وي، وماته یې را ښکاره کړی" دوی یې رخصت کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



منو، محیب هغه نرېدلي کور ته بوتلو، د کوم کور نقشه چې یې مور ورته جوړه یا ویله وه یادده په یاد وه.

محیب د هغې خونې پهٔ دروازه کې و درېدو چې دروازه یې نهٔ وه، خود بهٔ یو وخت کلیوالو کښلې وه، له دننه بې شمیره مرغۍ پر راووتې، پهٔ خونه کې یې لاندې باندې وکتل ،د خونې چت سورې سورې وو چې اکثره لرګي یې مات وو، پاته لرګي یې مرغیو خاشې کړي وو.

د مرغیو د چیچیانو شور وو، پاته مرغۍ هم یوه، یوه تر سوري، سوري چت ووتې چې ځای پهٔ ځای د ېوال هم د ناوې اوبو سره چاک کړی وو.

ځای پهٔ ځای بېخي رڼا ترښکارېده، و دته هغه د ویرې شپې ور پهٔ یادشوې.

که څه هم دی ډېر ماشوم وو چې دوی بهٔ کله مور له ویرې د خونې پهٔ یوه کونج کې ویده کړو، کله پهٔ بل کونج کې.

هغه شپه ور پهٔ یادشوه چې و دوی ته مور پر خولهٔ لاس ورنیولی وو، پټ، پټ یې له دېواله سره، د سپوږمۍ پهٔ رڼا کې روان کړي وو.

بې اختیاره یې پهٔ سترګو کې اوښکې راوګرځېدې، و یې ژړل.

منو چې د دهٔ سترګو ته کتل

صاحبه! خیر دی پر څه دې وژړل؟".

محیب چې له اوښکو یې ډکې سترګې ور واړولې

"پر دې وران کور چې زموږ پښتانهٔ پهٔ څنګه ځایونو کې اوسېږي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



له منو سره یې خدای په اماني وکړو، خپل دوتر ته لاړی.
سهار یې خپل افیسر ته، د خلګو د مطمئینه کېدو کیسه وکړه،
استاده پیدا کول لا پاته وو، افیسر ډېر خوشاله شو.
محیب ته یې پر درخواست څهٔ لیکل
"محیبه! تهٔ اوس خپل کور ته لاړ شه چې راغلې د نورو
سکولانو غم بهٔ بیا خورو".
محیب له افیسر سره خدای په اماني وکړه، د کور پهٔ لور راروان
شو، کور ته ناوخته ورسېدو.
له ناوخته ډوډۍ خوړلو وروسته، پر بستره وغځېدو، سر یې پر
بالښت ینبی وو، مور او خور یې وسرته ناستې وې، دهٔ د دوو
تېرو شوو میاشتو حال ورکاوهٔ.
بختیالۍ "ښهٔ! زویه کلي ته هم ورغلې".
محیب چې پهٔ خندا یې وویل "هو مورې".
بختیالۍ چې د دښمن دښمني یې هېره شوه.
"ښهٔ زویه! زمونږ خونو ته ورغلې؟".
دی پر بستر اوښت "هو مورې! سبا یې که خیر وو عکسونه صفا
کوم بیا بهٔ یې وګورې، اوس بهٔ مورې ویده شوو، زهٔ ډېر ستړی
یم، سبا بهٔ که خیر ووخبرې کوو".
سهار پر چای یې خاخان ته د کلي او سکول ټوله کیسه وکړه.
خاخان چې د دهٔ له خوبهٔ پرسېدلو سترګو ته کتل "وروره! دا خو
دې ډېر ښهٔ کړي دي، اوس بهٔ ښځینه استاده چیري غواړو؟".
محیب چې سترګې یې پهٔ زړینه کې وې.
"لالا! دا د بابو اقبال لور سبق ویلی دی، دا بهٔ نوکري نهٔ کوي؟".

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاخان چې هم سترګې د زریني د لاس پهٔ تېلو او ړمنځ کې وې
چې دته یې راوړو "حال بهٔ یې وکړو". بابو اقبال ته ورغلو، دروازه
یې وټکوله، هغه راغلی، پهٔ دروازه کې ولاړ وو.
خاخان پهٔ کوڅه کې یوې او بلې خواته کتل، ټوله کیسه یې ورته
وکړه.
چې دی بېرته پر شا غبرګېدو "سمه ده، زهٔ بهٔ له لور سره صلاح
وکړم".
د دهٔ شا ورته وه.
د خاخان له شاورپسې ږغ شو.
"ها بابو صاحب! دا یوه خبره مې هېره شوه، محیب ویل چې تر
هغه د دهٔ و لور ته، روپۍ پر کور ور کوم، تر څو چې مونږ هلته پهٔ
کډه ځوو.
کله چې مونږ پهٔ کډه ځوو، تهٔ خو هم اوس پېنشن یې، تهٔ بهٔ هم په
کډه راسره لاړ شې.
که تهٔ چیرې نهٔ تلې، ستا لور بهٔ راسره لاړه شي، زمونږ پهٔ کور کې
بهٔ اوسېږي".
بابو سهار د خپلې لور کاغذونه ورته راوړو.
تر هغه محیب د بابو اقبال د لور تنخا، کور ته وراوړله.
د ملکداد او مولوي صاحب روپۍ یې، له خپلې تنخوا ورکولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 12

که څه هم شکیله له وړوکوالي د دې کور ته تله راتله چې کله محیب نوکري ورلره پیدا کړه، هغه وخت یې بېخي تګ، را تګ نور هم زیات شو.

هر وخت به یې له زرینې سره، د کور په کار کې مرسته کوله.

د بختیالی شکیله ډېره خوښه وه.

خاخان د کړکۍ وځنګ ته کټ ینبی وو، د رنګونو واړه، واړه ډبیان په کړکۍ کې پراته، په هر رنګ د خپل ډبي سر لړلی وو.

تر کړکۍ سره هوا راتله، وځنګ ته د کړکۍ پرده یې پورته، پورته کوله.

د خاخان خپل انځور کړی تصویر په لاس کې وو، چې مور یې راغله، د کټ پر زۍ کښېنسته، تصویر ته یې کتل.

بختیالی "زویه! دا تصویران خلګ ښهٔ نهٔ یاده وي".

خاخان تصویر مور ته ونیوو "مورې! دا یوه فلمي اداکاره ده".

بختیالی د دهٔ د لاسه تصویر ورنیوو.

"زویه! تر دې تصویره مې یوخبره راپهٔ یادشوه چې له ډېره وخته مې پهٔ زړهٔ کې ده، نن بهٔ ورته وابې، نن بهٔ ورته وایې".

خاخان "څنګه خبره؟".

بختیالی "زویه! زهٔ چې د شکیلې تورې غټې سترګې، سرهٔ ګن وېښتان، دسپین مخ پراخه ګردی کاسه، او ښائسته مرمرین غانښونه ووینم، زړهٔ مې وغواړي چې بابو اقبال ته ووایه، دا لور را

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه، زما و زوی محیب ته .بیا بېرته پښېمانه شم. له ځانه سره ووایم.
یو خو د خاخان واده نشته بل که څه هم دوی پښتانهٔ دي. لهجه یې له موږه جدا ده، دود او دستور یې له موږه جدا دی".
دا وخت یې مور داسې محسوسه کړه چې یو چا غوږ نیولی دی، زما خبرې اورې.
شاته یې وکتل چې شکیله و زرینه یې ولیدې، شک یې پهٔ یقین بدل شو، خبره یې واړوله.
"خاخانه زویه! د محیب پهٔ مسافري کې ډېر وخت وشو چې حال احوال یې نهٔ دی راغلی، تا یې یو باسخواس (درک) کړی وای، چې روغ جوړ دی؟".
چې د دوی خبره ختمیده، د محیب توخی شو دننه راغلی.
خاخان او مور ورولاړ شو، پهٔ غېږ یې روغبړ ور سره وکړو.
مورېې ناري کړې "زرینې لورې! اوبهٔ راوړه". زرینې چې اوبهٔ راوړې، محیب یې ولیدو"عمر دي ډېر دی، هم دا اوس مې یاد ولې راغلې، محیبه وروره!.
غېږ یې پر وګرځوله ،زرینه چې د مورکۍ نن څویمه ده چې پهٔ خولهٔ کې وې، هم دا اوس ، اوس یې یاد کړې".
زرینه چې چای راوړلو ته ولاړه شوه، شکیله ته یې د محیب د راتلو وویل.
شکیلې چې دچای چائینکه پر ښوه "زرینې! نن یوه د زړهٔ خبره پهٔ خولهٔ درته وکړم، بده خو بهٔ یې نهٔ ګڼې".

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرينې چې پيالې په پتنوس کې بنوې "نه نه شکيلې خود يې وکړه. ولي بۀ يې بده ګڼم".
شکيله چې سترګې يې د زرينې په لاس او پتناسۀ کې وې "له ډېره وخته مې زړۀ دا غواړي چې له محيب سره کښېنم، يو څو خبرې ورسره وکړم".
زرينې چې له اوره چائينکه را کوزوله "دا خو اسانه ده. اوس چې زۀ ورغلم، د را ناره بۀ کړم چې شکيلې دلته راشه. تۀ هلته يوازې څۀ کوې .تۀ چې راشې، بس روغبړ بۀ ورسره وکړې".
زرينې چې پتنوس را واخيست، دا هم ور سره ولاړه شوه "سمه ده".
زرينې چې چاى ور وړې، پيالې يې ډکې کړې بيا يې ناره کړه "شکيلې ! دلته راشه، تۀ هلته يوازې څۀ کوې".
شکيله چې په دروازه کې ولاړه وه، سوکه، سوکه راغله، د زرينې له څنګه کښېنسته.
محيب چې سترګې ور واړولې "شکيلې ! خنګه يې؟".
شکيلې چې سر کښته څړولی وو، غټې تورې سترګې يې مرې ور واړولې "زۀ ښه يم محيب صاحب. تۀ څنګه يې؟".
محيب چې د مور له لاسه د اوبو ګلاس نيوو "زۀ هم ښۀ يم، ستاسو په کور کې څۀ حال دى. مور او اقبال صاحب هم ښۀ دي؟".
شکيلې چې د زرينې د پړوني سپينسي، په دوو ګوتو سره پېچل، سترګې يې مرې ور واړولې.
"هو تول ښۀ دي".
محيب چې د چاى اخري پياله کښېښوه، ولاړ شو، د جرابې يې کښلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"لالا! زهٔ یواري ځم. یو څهٔ کار مې دی. بېرته ژر راځم".
شکیله تر دهٔ له مخه ووته.
محیب چې له کوره ووتو. پهٔ کوڅه کې روان وو چې شکیله یې ولیده پهٔ خپله دروازه کې ولاړه وه. له هغې خوا چې محیب بېرته کورته را رهي وو. شکیله لا پهٔ دروازه کې ولاړه وه. محیب ته یې کتل.
محیب شکي شو چې د دوی تر کور را تېر شو. شاته یې وکتل. شکیلې لا پهٔ دهٔ پسې کتل.
د محیب تبیت سره ګډ وډ شو.
ټوله شپه یې پر دې سوچ کاوۀ چې "د دې نجلۍ څهٔ مقصد دی. پهٔ دروازه کې ولاړه وي؟".
خیر سهار که ولاړه وه پوښتنه بهٔ ځینې کوې". سهار چې محیب را ووتو. پهٔ کوڅه کې روان وو. د دوی تر کوره یې و دروازه ته کتل. شکیله نهٔ وه ښکاره.
له ځان سره یې وویل "ښهٔ یې ویلي دي چې په ځان کې ویني. هغه پهٔ جهان کې ویني" پهٔ دې سوچ کې د دوی تر کور تېر شوی وو چې شاته یې وکتل. شکیله ولاړه وه. بېرته را غبرګ شو.
شکیلې چې دی ولیدو، دروازه یې بنده کړه. ماخوستن یې یوې او بلې خواته وکتل چې څوک نهٔ وو. زرینه ته یې وویل "سبا شکیله را وغواړه. زما پهٔ کار ده".
زرینې واړه وخندل "سمه ده وروره!".
پهٔ دا بله غرمه چې محیب له ښاره راغلی. شکیله راغلې وه.
پهٔ کونجې تندي او برګو سترګو یې شکیله ته کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"تهٔ شرم نهٔ لرې چې پهٔ دروازه کې ولاړه یې".
شکیله چې له خولې سره یې د پروني څاک نیولی وو، واړه واړه یې خندل "صاحبه! د دې کوټې ټولې ښځې پهٔ دروازه کې دریږي. یوه زهٔ خو نهٔ یم".
محیب چې سر کښته ځړولی وو، را پورته یې کړو، پهٔ قهر یې ور وکتل "منم چې دریږي، خو ته باید داسې ونکړې.
زهٔ چې کورته راځم، تا پهٔ دروازه کې نهٔ وینم. که مې ولیدې بیا بهٔ دې وخیر ته سترګې وخېژي".
شکیله چې مخ یې د زریني پهٔ خوا وو "سمه ده صاحبه! چې ته راتلې بیا وما ته حال راکوه".
محیب چې په خونه دننه کېدو "هو زهٔ ستا د پلار مزدور یم".
شکیله ولاړه شوه، کټ، کټ وېې خندل، د دې پهٔ لهجه یې وویل.
"یوه بهٔ کوې".
دهٔ چې پهٔ خونه کې څپلې کښلې، سترګې یې پهٔ هغه بالښت کې وې چې دېوال ته پروت وو. له هغه ځایه یې وویل "زریني! دا شکیله پوه کړه، زهٔ دا نمک حرامي نهٔ کوم. که یوچا ولیدو څهٔ بهٔ وای. تهٔ خبره یې چې زهٔ د دې کوټې، د هر سړي، قدر کوم، خدای تر دې ځایه را ورسولم، د دې کوټې خلګو. نن زهٔ داسې نمک حرامي څنګه وکړم؟".
زریني چې کړکۍ سره پورې وهله "سمه ده وروره! زهٔ بهٔ یې پره کړم".
پهٔ دې بله ورځ اقبال بابو راغلی. پهٔ خونه کې پر کټ داسې ناست وو چې دواړه پښې یې لاندې ځړېدې. بختیالی ته یې وویل "د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکیلې غوښتنه ده چې زهٔ محیب سره واده کول غواړم، تهٔ خبره یې زما دغه یوه لور ده او اختیار مې هم ور کړی دی چې دې ګوته پر کنبېښوه، بس مورې یې وهغه ته ور کوو، هم موخوښ دی".

بختیالۍ چې پر کټ بالښت ورته ږدلی "سمه ده وروره، مورې بهٔ صلاح سره وکړو، صلاح نو بل له چا سره کوو، یو شاه جي دی له هغه سره بهٔ ووینو". ماښام چې خاخان او محیب راغلو، بختیالۍ د اقبال بابو کیسه ورته وکړه.

د محیب د ښیښې له اوبو ډک ګلاس پهٔ لاس کې وو، پهٔ اوبو کې یې کتل چې وېې خندل "مورې! زهٔ بهٔ شرم نهٔ لرم، چې لالا بهٔ بې واده ناست وي، زهٔ بهٔ وادهٔ کوم".

خاخان چې د دهٔ وتکو سپینو، وړو غاښونو ته کتل "نهٔ وروره! دې ته بهٔ نهٔ ګورو چې ستا وادهٔ شته او زما وادهٔ نشته.

دې ته بهٔ ګورو چې زمونږ ګټه پهٔ څهٔ کې ده، دا ښځه چې مونږ غوښتای، پهٔ سوالومو نهٔ شوه پیدا کولای، نن سرې کور ته درته راغلې دی، پهٔ سوالونو یې درکوي.

یو خو ته او دا پهٔ خبره سره پوهېږی بل بهٔ دې هغه د سکول کار پهٔ جوړ شي.

زهٔ خو هسې هم د ښار ښځه نهٔ کوم. پهٔ ما مه پرېشانه کېږه.

زهٔ چې بیا کلې ته لاړشم، پهٔ هغه خپلو اوښېنو او شپنو کې بهٔ یوه پیدا کړم".

محیب که هر څومره ځان دلې دورې کړو. خو بختیالۍ او خاخان تر خپله خبر نهٔ تېرېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ورځې پس اقبال بابو بیا راغلی، یو پنډ کتاب یې هم په لاس کې وو.
له ځپلې سره پر کالي کښېښستو.
"بختیالۍ! څنګه شو خوري صلاح مو وکړه؟".
بختیالۍ "هو وروره! مابنام چې خاخان راشي، زهٔ او خاخان بهٔ کور ته درشو".
اقبال چې د ولاړېدو هڅه کوله "خوښه مې ده، زهٔ بهٔ انتظار کوم. ښهٔ دی سره وبهٔ رغېږو، تاسو بهٔ هم یو څوک لرئ، زهٔ بهٔ یې هم لرم".
بختیالۍ چې دلته یواري بیا د سوچونو له دنیا را ووته. داسې یې محسوسه کړه. لکه له خو بهٔ چې را ویښه شي، له ځان سره یې دا غاړه وکړه.

خپل د وخورم خپل له څهٔ دي
خپل د نورو پـــــه نامهٔ دي"

مابنام چې خاخان راغلی. بختیالۍ او خاخان د اقبال بابو کور ته ورغلو، ورځ او وخت یې سره وټاکلو.
دغه رنګه د بختیالۍ په ژوند کې. د ښادۍ او له ورځ راغله، چې دا له خوشالۍ په دې نهٔ پوهېده. چې زهٔ څهٔ وکړم څهٔ نهٔ؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library



13

محیب پهٔ خپل دوتر کې ناست وو چې خپل افیسر وغوښتو، ورغلی.

"محیبه! ستا د سکول خو دوه کاله پوره شو. اوس بې د پخېدو ار ډر شوی دی. پر لس تاریخه سیکریټري راځي. گوري بې-

تهٔ هغه استاده ته حال ورکړه چې پهٔ هغه ورځ حاضره وي او یا بې ماشومان صفا وي"

محیب وویل "سمه ده سر! بې غمه شه" را ووتو.

یو لیک بې ولیکلو. د خپل نائب قاصد پهٔ لاس بې ورکړو. چې دا زموږ تر کوره ورسوه. اقبال صاحب ته بې دوی پهٔ خپله رسوي-

دی پهٔ خپله سهار له ډرائیوره سره پهٔ موټر کې سپور شو. کلې ته ورغلی-

د کلې خلک بې پوه کړو چې "زهٔ پر لس تاریخه افیسر راولم. تاسو دا ورته ووایاست. چې دا ځای را پوخ کړه. نور ما او کار سره پرېږدی".

ملکداد چې سترگې بې د دهٔ پهٔ خبره کې وې. د یو شناخته گمان بې پر کېدو.

"صاحبه! که بې چیرې ماشومان طلب کړو؟".

(c) ketabton.com: The Digital Library



محیب چې سترګې یې د سکول د سرای په نرېدلي، کنډۍ، کنډۍ دېوال کې وې "هغه زۀ پوه شوم او کار".
په هغه ورځ دینک کاکا هم په خلګو کې موجوده وو، دی یې وپېژندلی.
محیب مخ ور واړاوو "کاکا تۀ هم د دې کلي یې؟".
دینک چې په برېتو کې یې خندل "هو، ولې؟".
محیب د سترګو له اشارې سره سم.
"بل وخت هم زۀ راغلی یم، تۀ مې نۀ یې لیدلی".
دینک: "هو زما نن اوله ده چې درته راغلی یم".
محیب: کاکا "بیا خو نو ملامت یې".
دینک: "هو ملامت یم".
محیب چې مخ د ملکداد په لور ور واړاوو "چې ملامت یې بیا پر لس تاریخه د شلو کسانو ډوډۍ وکړه".
دینک چې د دۀ ور څېرمه لاس ونیوو، په ورو خندا کې یې وویل،
"عجبه ده، ډوډۍ پۀ ما کوې، روپۍ مولوي صاحب او ملکداد ته ورکوې؟".
محیب چې یې لاس پۀ لاس کې ټینګ کړو "کاکا عجبه خبره کوې، مشر د مېرېانو هم وي".
دینک چې یې لاس له لاسه کښو "سمه ده تر یوه سېرلي به تېر شم".
محیب کاکا کور دې ودان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوهٔ، يوهٔ ته يې د رخصت لاس پهٔ لاس کې ور کاوو، چې محيب رخصت شوو.
دينک کور ته راغلی.
"ښځې! عجبه بهٔ درته وکړم، شاوخوا يې وکتل څوک نهٔ وو. تهٔ خبره يې د سکول افيسر څوک دی؟".
ښځه چې له ګوډي يې اوبهٔ را اخيستې "نه سړيه زهٔ څهٔ پهٔ خبره يم".
دينک چې يې اوبهٔ له لاسه وراخيستې "افيسر محيب نوميږي، د بختيالۍ زوی دی".
ښځه چې د دهٔ د لاس لوښي ته انتظار وه "دا څهٔ وايې، د ملکداد پر کور خو خاوري نهٔ ور اوړي؟".
دينک چې بېرته لوښی ور کاوٌو.
"ښځې! پهٔ نيت بهٔ يې خدای خبر وي، اوس خو پر لس تاريخه راځي، د شلو کسانو ډوډۍ بهٔ ورته کوو".
ښځه چې روانه وه، نوک يې ونيوو "خود يې ورته کوو، ډوډۍ د دهٔ تر سر جار ده.
سړيه! تهٔ يې ښهٔ پېژنې، د بختيالۍ زوی دی که بنزی؟".
دينک چې د دې ولاس ته کتل، پهٔ لوښي کې پاته اوبهٔ يې تويولې "نهٔ زهٔ يې ښهٔ پېژنم، د بختيالۍ زوی دی، بنزی يې نهٔ دی، محيب نوميږي".
پر نهه تاريخه شکيله او اقبال صاحب را ورسېدو.
محيب چې د سرای پهٔ دروازه کې ودريدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"اقبال صاحب! زهٔ که خیر وو. سهار وختي له ماشومانو سره راځم بیا به سکول ته که خیر وو خو".

اقبال صاحب چې دننه په دروازه کې ولاړ و "دلې پاته شه. شکیله خو څه ناوله نهٔ ده".

محیب چې دهٔ تلو هڅه یې کوله.

"نهٔ نهٔ زهٔ یو ځای میلمه یم".

سهار وختي محیب راغلی، څو وړې نجونه او ماشومان یې په موټر کې کښېنولي وو، دوی یې هم را واخیستو. د سکول په لور روان شو.

چې کلې ته ورسېدو، د دینک کاکا کور ته ورغلو. هغه یې ښهٔ خدمت وکړو.

دا یوه حرکت د دینک خوند نهٔ ور کاوۀ. چې ودته به یې وکتل، په برېتو کې به یې وخندل.

اخیر یې دینک کاکا ته هغه بسکټ ور کول. چې له ځانه سره یې راوړي وو. د افیسر د پاره. هغه یې ور کول پوهه یې کړو.

افیسر ډېر ناوخته شو چې دوی ډوډۍ وخوړه. اوس یې د روانېدو تیاري کوله. د هلکانو نارې شوې "هغه دی بل موټر راغلی. هغه دی بل موټر راغلی" چې موټر رارسېدو. دوی د سکول له مخه سرد تول ولاړ وو.

یو درخواست یې د ملکداد په لاس ور کړی و. او بل د شکیلې.

موټر ودرېدی هغه افیسر و. راکښته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محيب چې ور مخته شو.

"صاحبه! ډېر ناوخته شوې، ښځي ډېر انتظار مو در ته وکړو.

اوس مو سکول رخصت کړی، مور هم در روانېدو".

افيسر چې گهړی ته وکتل.

"اوف! دا خو درې بجې دي. پهٔ تاسو خو مې ډېره شپيانه وکړه".

محيب شکيله او ماشومان رخصت کړو.

صاحب چې بل کړی سگرېټ يې پهٔ خولهٔ کې وو، اور لگيت يې د پتلانهٔ جېب ته کړی، سکول ته روان شو، دورې يې د ملکداد او شکيلې درخواستونه ور کړو.

له هغې خوا چې راغلو، افيسر پهٔ ولاړې له موټره سره، يو پياله چای وڅښلې، روان شو.

محيب راغلو د ډينک کاکا پهٔ کور کې يې، ښې پهٔ تسلي چای وڅښلې.

هغه له ښاره راوستي ماشومان پهٔ موټر کې بيا يې واخيستل او خپلو خپلو کورنو ته يو ورول،

دی په خپل دفتر ځينې کوز شو. پهٔ هغه شپه، شپه يې ډرائيور له اقبال صاحب او شکيلې سره ولېږلی، کور ته يې ورسولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 14

محیب پهٔ کلي کې د سکول پهٔ بهانه سرای شروع کړی.
که څه هم سرای کچه وو. خو نقشه یې داسې وه چې کلیوال ټول ورته حیران وو.
اوس بهٔ محیب یو نهٔ بله ورځ ضرور کلي ته تلو. یو ورځ خپل افیسر ور وغوښت.
"محیبه ! ستا هغه کلي ته ښخي تلهٔ را تلهٔ ډېر شول. له هغې استادې سره خو دې خبره نهٔ شوه او ږده ؟".
محیب چې د دهٔ ومختبه پر چوکی ناست وو، واړه یې وخندل
"سر ! هم داسې یې وګڼه".
افیسر چې پر کاغذ یو څه لیکل.
"محیبه ! خیال کوه داسې نهٔ وي پښتون وطن دی"
محیب چې نظر یې د افیسر پهٔ نرۍ ګوتو کې وو "نهٔ نهٔ صاحبه ! داسې نه ده. هغه استاده ماغوښتې ده، که مې څه هم را واده کړې نهٔ ده. سر ! زهٔ بهٔ نن تو له کیسه صفا. صفا درته وکړم چې زهٔ دا سکول څهٔ ډول چلوم او څهٔ مقصد مې دی؟".
افیسر ته یې ټوله کیسه وکړه
افیسر چې قلم یې پر کاغذ برسېره پرېښودی، پهٔ چوکی کې وغځېدو "ښهٔ ښهٔ بس.
محیبه ! له ننه پس تهٔ له دې کلي بند یې. ستا پر ځای بهٔ زهٔ دا ډیوټي کوم".

(c) ketabton.com: The Digital Library



محیب چې سر کښته ځړولی وو، خپل شونډ یې په غاښو کې نیولی وو، له ځانه ورک غوندې ښکاریدو، بېرته یې سر را پورته کړو.

"نه سر! وتاته زحمت نه در کوم، زه ور سره پوهېږم".

افیسر چې په چوکۍ کې راجګ شو، خپل قلم یې بېرته ور واخیستو.

"نه نه سر خلاص کړه، که چیري نه منې، نو ورځم هغو خلګو ته دا کیسه صفا، صفا کوم".

محیب چې سترګې یې بېرته له افیسره را واړولې.

"نه نه سر! که مې مور خبره شوه، بې وعدې به مړه شي، دا مې د مور ارمان دی".

افیسر چې خپل لیکل شروع کړو.

"بس ته سبا کور ته لاړ شه د کور کارونه او خپل واده به وکړې، زه پوه شوم او هغه کار".

محیب چې ولاړېدو.

"سر! ښکه چې ستاسو خوښه وي".

له افیسر یې رخصت واخیستو، ښار ته را ووتو، په بس کې سپور شو.

کور ته چې ورغلی، ښځې ناوخته وو.

د ډوډۍ دسترخوان غوړېدلی وو. کهول ټول پر ډوډۍ ناست وو دهٔ هم لاس ومینځل خاخان خندل.

"هلکه محیبه! شکیله درغلې وه، خو یو څو شپې به دې په کولې تا بېرته په هغه ورځ را ولېږله".

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی خاموشه ناست وو.
د بختیالی چې جوړه ګوله په لاس کې وه. خولې ته یې وړله، لاس یې تم کړو.
"محیبه زویه! څنګه دي کړو سکول؟".
محیب چې د مور په لاس کې ګولې ته کتل "مورې! ما خو د سکول په بهانه په کلي کې سرای شروع کړو".
بختیالی چې ګوله یې په خوله کې وه.
"زویه! دا کار بهٔ دي بې صلاح نهٔ شروع کاوؤ".
محیب چې له ډوډۍ سوځلي ځایونه بېلول "مورې! ما شروع کړی".
بختیالی چې بله ګوله تر مخ پراته غاب ته وروړه.
"زویه! مزدورانو ته دي څوک پرېښودل؟".
محیب چې ډوډۍ بس کړې وه.
"مورې! خپل افیسر".
نورو ډوډۍ خوړه. دهٔ توله کیسه ورته وکړه.
بختیالی چې سترګې یې په غابونو کې وې. زرینې سره یو ځای کول.
"زویه! ښهٔ شو چې راغلې. مونږ هم پرېشانه وو چې دا هلک اوس څهٔ شو چې نهٔ راځي.
اقبال صاحب دا څویم وار دی چې راځي وایي "زهٔ تیار یم. نږغ ستاسو له خوا دی" مونږ وتاته کتل. د وادهٔ تاریخ مو نهٔ دی معلوم کړی".
محیب چې دسترخوان ټول شو. خاخان ته ورولاړ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



محيب: "لالا ! ستړی مه شې".
له هغه وروسته يې له مور او زرينې سره روغبړ وکړو.
بختيالۍ: "خاخانه زويه ! اوس له محيبه سره د اقبال صاحب پر خبره وړ غېږه".
محيب چې بېرته کښېنستو.
"مورې ! دا خو ستا او د لالا کار دی، ورځ به مو و رسره ټاکله".
بختيالۍ چې سترګې يې په زرينه کې وې، سره نغښتي دسترخوان يې په لاس کې نيولی وو، د خبرې د ختميدو په انتظار کې وه.
"زويه ! کار خود زما او د لالا دی، موږ دا هڅه په دې وکړه چې داسي نه وي، د ده ضروري کارونه وي، موږ دلته د وادهٔ تاريخ معلوم کړو".
ما ښام اقبال صاحب خبر شوی وو چې محيب راغلی دی، په سهار يې مخه ور وکړه، کور ته ورغلی.
بختيالۍ سر مينځلی وو، تر مخ يې هينداره، تېل او ږمنځ پراته وو چې دی يې نوک نيولی وليدو، ژر، ژر يې پړونی پر سر کړو
"راځه راځه خدای دې راوله".
اقبال صاحب چې ځپلی کښېنی.
"بختيالۍ ! خاخان او محيب چېري دي؟".
بختيالۍ چې هينداره، ږمنځ او تېل سره ټولول
"ته کښېنه، رابه شي".
خاخان هم له خونې را ووتو، د روغبړ پر وخت چې ده د ولاړېدو هڅه کوله، خاخان ورته کښېنستو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له روغبره وروسته، خاخان هم بل بالنبت ته څنګ ووهلو.
اقبال صاحب چې د خاخان په خوا کتل "د کار خبرې به کوو، زه روان یم، یو ځای ډېر ضروري کار لرم.
وروره! ته به وایې د دې سړي اوس څه تازیله ده چې هره ورځ راځي او هله، هله یې جوړه کړې ده.
وروره! د نجلۍ شیان نیم دباندې په برامده کې پراته دي، نیم په خونه کې ،ته خبر یې، زموږ ډېر وړوکی سرای دی، دوې خونې پکښې دي،
په یوه کې د نجلۍ شیان پراته دي، په هغه بله کې موږ ګزاره کوو".
خاخان چای اچولې، سترګې یې په پیاله کې وې.
"په کومه ورځ چې ته تیار یې،موږ تیار یو".
ده پیاله وخان ته نژدې کوله چې په ژړغوني انداز یې وویل "را روان اتوار".
خاخان چې پر خپله ږیره لاس تېرا وو.
"سمه ده، ته به هم خپل پاته کارونه وکړې، موږ هم".
اقبال صاحب چې د پیالې له تشېدو سره سم ولاړ شو "د خدای په امان".
خاخان چې هم ورسره ولاړ شو.
"په مخه دې ښه".
بختیالۍ چې د خاخان له څنګه سره ناسته وه "زوی دې ومره اولاده چې اقبال صاحب نن لاژړغونی وو".

(c) ketabton.com: The Digital Library



او باالاخیر هغه اتوار هم راغلی چې اقبال صاحب او ښځې ژړل، خاخان او بختیالی لاسونه سره کړي وو، یو هم له خوشالی په خپلو جامو کې نه ځایېدلو، د کوځې ښځې یې له کوره وتې او په کور ننوتې.
ماښام د کوځې د ټولو خلګو ډوډۍ د دوی په کور کې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 15

د وادۀ دوې مياشتې پس، محيب خپلې ډيوټۍ ته لاړ. دورې يې له خپل افيسر سره وليدل، خپل حال يې ور کړو.

"سر ! تۀ اوس خپل حال راکړه، څنګه يې زما له قربانو سره، پۀ ژبۀ پوهېږې او کار پر څۀ حال دی، تر کومه ځايه رسېدلی دی؟".

افيسر چې پۀ برېتونو کې خندل، د دۀ پر مخ يې دوو، درو تازه ټپونو ته کتل.

"محيبه ! کار ډېر ښۀ روان دی، قربيان دي هم نور ښۀ دي، يو په دينک مي سر نه خلاصيږي چي څنګه سړی دی ؟، خير زياته کار سر ته رسېدلی دی، يوه مياشت که يې لا وغوښته. دا يوه سړي څه سترې کړی يم، لکه هغه نجار ډېرې روپۍ يې پاته دي، له ماسره وې نۀ چې ور کولې مې.

زما کور بۀ وتاته نۀ وي معلوم، شپېته تنۀ دي، د مزدورۍ يې يو زۀ يم.

زموږ کورونه خو ښۀ در معلوم دي چې ګټې يې يو، ختمې يې سل".

محيب چې جېب ته لاس کړو، د روپو بنچې يې راکښې.

"سر ! غم يې مه کوه، روپۍ مې راوړې دي، هم ستا کار پۀ کېږي هم زما".

(c) ketabton.com: The Digital Library



محیب چې له چوکۍ ور ولاړ شو، صاحب ته يې روپۍ ور کولې.

"د سرای کار خو که خیر وو، زیاته پای ته رسېدلی دی. هغه د سکول بیلډنګ څنګه شو؟"

افیسر روپۍ ګنلې.

"محیبه! هغه کار ټېکدار اخیستی دی، ټېکدار مې پوه کړی دی، تر هغه به کار نهٔ شروع کوي چې ته پهٔ کډه نهٔ يې ورغلی."

محیب چې افیسر ته ور کړې هغه بقایه روپۍ يې و جېب ته کولې.

"سر! بیا خو دې ډېر ښهٔ کړي دي."

افیسر چې نائب قاصد ته حکم وکړو، هغه رجسټر را واخله.

"محیبه! پهٔ دې کې خپله حاضري ولګوه او ورشه خپله تنخا واخله، کور ته لاړ شه، زهٔ پوه شوم او دوتر، هغه کار وماته دا خو ورځې د کلي ماحول څهٔ ښهٔ نهٔ ښکاري ، دینک سپک، سپک کېږي داسې نهٔ وي، کلیوال تول پهٔ دې خبر کړي او هغه ستاسو تر راتلو له مخه، یو چل جوړ نهٔ کړي.

نن څویم تاریخ دی؟"

محیب چې خپله حاضري يې لګوله "افیسر! نن دریم دی."

افیسر چې بېرته د دهٔ له لاسه قلم نیوو.

"محیبه! را روان یوه تاریخ ته بهٔ که خیر وو، کار مکمل وي. که څهٔ پاته وو بیا بهٔ يې وکړو.

تهٔ بهٔ پر یوه تاریخ کډه راولې، زهٔ بهٔ دورې درته ولاړ یم."

(c) ketabton.com: The Digital Library



محیب چې ور مخته شو.

"صاحبه! ډېر ناوخته شوې، بښخي ډېر انتظار مو در ته وکړو.

اوس مو سکول رخصت کړی، مور هم در روانېدو".

افیسر چې ګهړی ته وکتل.

"اوف! دا خو درې بجې دي. پهٔ تاسو خو مې ډېره شپیانه وکړه".

محیب شکیله او ماشومان رخصت کړو.

صاحب چې بل کړی سګرېټ یې پهٔ خولهٔ کې وو، اور لګیت یې د پتلانهٔ جېب ته کړی، سکول ته روان شو. دورې یې د ملکداد او شکیلې درخواستونه ور کړو.

له هغې خوا چې راغلو، افیسر پهٔ ولاړې له موټره سره، یو پیاله چای وڅښلې، روان شو.

محیب راغلو د ډینګ کاکا پهٔ کور کې یې، ښې پهٔ تسلي چای وڅښلې.

بیا یې هغه له ښاره راوستي ماشومان پهٔ موټر کې واخیستل .او خپلو خپلو کورنو ته یو ورول،

دی په خپل دفتر ځینې کوز شو. پهٔ هغه شپه ، شپه یې ډرائیور له اقبال صاحب او شکیلې سره ولېږلی، کور ته یې ورسولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محیب چې شکیلې ته د اوبو اشاره کوله.

"یوه بلا یې نهٔ وهي، مستان هر ځای وخت تېره ولای شي".

محیب د اوبو له چنبلو سره سم ولاړ شو، خپلې خونې ته لاړ. یــو ګړی وروســته شــکیله هــم ورغلــه، د پلنــګ پــر ژۍ کښېنسته، د محیب یو لاس یې پهٔ لاس کې ټینګ ونیوو.

"ستا څهٔ خیال دی، شکیلې چې دومره سپین سترګې کولای شوه، اوس بهٔ له تاسره پهٔ هغه کلي کې د ژوند شپې او ورځې نهٔ کړي تیرې".

پهٔ دې بل ماښام چې اقبال صاحب راغلی، محیب لاړو، شاه جي یې تر لاس نیولی راوستو.

ډوډۍ راغله، وخوړله شوه.

له ډوډۍ وروسته، شنې چای راغلې

محیب، شاه جي ته د چای پیاله ور پورته کوله.

خاخان چې خبره یې پهٔ دې ډول یاده کړه.

"شاه صاحب! زمونږ ټولــه کــورنۍ خڅهٔ، زمــونږ لمســبان او کړوسبان بهٔ ستا احسان منو، مونږ خدای تر دې ځایه را ورسولو، تا را ورسولو.

ستا له درسه وروسته، مونږ ټولو هغه سړی هېر کړۀ، چا چې ومونږ ته یې پر زړونو داغونه را ښيني وو، پهٔ کوټلو زړونو مو د ژوند د تېرېدلو لار، تا راښوولې وه، پر هغه لاره خو مونږ دا دی تر دې ځایه سفر را وکړو".

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه جي چې پۀ رېږدېدلی لاس پیاله نیولي وه "خاخانه! ستا ده خبرې پۀ مقصد نۀ شوم پوه؟".

خاخان چې د مور له لوره سترګې د دۀ پۀ خوا واړولې.

"شاه صاحب! تۀ نۀ یې ملامت، وما ته خبرې درک نۀ راکاوۀ چې له کومه ځایه یې شروع کړم، موږ اراده کړې ده، خپل کلي ته پۀ کډه ځو".

شاه جي چې د خپل سر پر تکو سپینو وېښتانو لاس تېرا وو.

"خاخانه! دا زما فرض وو، ما خپل فرض پوره کړي دي، له تاسو سره مو یو احسان هم نۀ دی کړی".

خاخان چې خپله پیاله یې ډکوله.

"شاه صاحب! تۀ که یې احسان نۀ بولې، موږ یې احسان ګڼو، نور بدل خو یې موږ نۀ شو درکولای، دا رشته بۀ تر مرګه درسره پالو".

له دې وروسته یې شاه صاحب او اقبال صاحب رخصت کړو،

شاه صاحب محیب تر لاس نیولی کور ته بوتلو.

پاته ورځې یې خپل کارونه سره سم کړو.

د هغه تاریخ پۀ ورځ یې یوه لارۍ او یو موټر ونیوو، ماښام له یې د کوڅې د ټولو، خلګو ډوډۍ وکړه چې نۀ شیعه، نۀ عسائي او نۀ هندو پاته شوو.

له ډوډۍ وروسته یې لارۍ ته کور ور واچاوو.

له ټولو سره یې خدای پۀ اماني وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه جي ،جبینه ،اقبال او د اقبال ښځه د ښځو وموټر ته ولاړ وو.
د خدای پۀ امانې پر وخت، د درو سره کورنیو اوښکې څڅېدې.
شپه یې پۀ لاره وو، بله، ورځ تر ماپښینه.
چې کلي ته ور ښکاره شو، افیسر او دینک د محیب د سرای څنګ ته ناست وو چې لاړې او موټر یې پۀ نظر شو.
افیسر چې موټر او لاړې ولیدو.
"دینکه اکا ! دا ده د محیب کډه هم راغله".
دینک چې د افیسر پۀ لور حېران ، حېران کتل.
"تا اول ولي نۀ ویل".
افیسر د دۀ تندي ته کتل، واړه واړه یې خندل "ولي؟
زۀ څۀ لېوني درته ښکاردم ؟".
دینک :صاحبه زه هم لیونی نه وم ،په هر څه پوهېدم ،خو په څله مي لاس نیولي وو ،
دینک ناکراره شو، په ځغاسته لاړو، خپله ښځه او ماشومان یې خبر کړو.
له هغې خوا د ماشومانو نارې شوې.
"د بختیالی ترورۍ کډه راغله،د بختیالی ترورۍ کډه راغله".
ماشومانو بختیالی څۀ پېژندله، د پلار له خولې یې اورېدلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی پهٔ سرای کې خپل کور سره سماوو، ماښام تیاره کلیوالو ډوډۍ ور ته راوړه.

پهٔ هغو کې یو منو اکا هم وو چې د بس د سفر خبر یې پهٔ یاده وه.

د کورتو وره ډوډۍ یې راوړه چې میان یې له اصلي غوړو ډک وو.

دوی چې ډوډۍ وخوړه، وروسته بیا د کور پهٔ سمېدو اخته شو، ناوخته ویدهٔ شو.

سهار چې راووتو، په کلي کې اوازه وه، ملکداد برایه د شپې بار شوی دی.........................

(c) ketabton.com: The Digital Library

Novel

# Bakhtyalai

Author :

Abdul Qadir Mujrim



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**